
پهٔ اورونو
کښې ګلونه
رفیق یوسفزی
پهٔ اورونو کښې ګلونه
رفیق یوسفزی
مخکښې دَ هغـــې نه چې څوک وګورې کلام زما
وې دې پښتنـــــو او پښتونخوا باندې سلام زما
دا دَ عقل جنګ دَ مټ دَ زور نه اوس وتلے دے
دغه پښتنـــــو ته شاعری‌کښې دے پېغام زما

بسم الله الرحمن الرحیم

## دَ کتاب ټول حقونه خوندي دي


| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | پهٔ اورونو کښې ګُلونه |
| دَ شاعر نوم | رفيق يوسفزے |
| دَ اُوسيدو ځائے | بره دير |
| تعليم | ايم ايس کمپيوټر سائنس |
| | ايم ايس پراجيکټ منيجمنټ (UK) |
| کمپوزنګ | وسيم عباس خان (0535652092) |
| سرپاڼه | خيام يوسفزے |
| تعداد | ۵۰۰ |
| چاپ | دوېم ځل |
| بيعه | ۲۵۰ |
| پريس | .......... |
| دَ شاعر نور چاپ کتابونه | تهٔ چې راغلې پسرلے شو |

څهٔ وشو کهٔ تا لکه دَ ګُل زړې زړې کړمه
پاڼې پاڼې پرېوتم خوَرې مې خوشبویۍ شولې

# تړون

دَ خپلې مورنۍ ژبې پښتو، پښتون
قام او سپېځلې پښتونخواه پهٔ نوم

چې

پهٔ ولایت کښې هم زما پېژندګلوي
ده ۔

# دَ رفيق يوسفزے دَخيالونو ائينې

دَ حالاتو ، لفظونو دردونو او کيفيتونو ټول رنګونه او تصويرونه چې دَ فن دَ ګوتو پهٔ ګرفت کښې راشي نو مونږ ورته شاعري وايو ۔ شاعري دَ هر زړهٔ دَ خاموشه درد ژبهٔ ده او يوه داسې چغه ده چې مونږ ته چغه نهٔ بلکې دَ نغمې بدن رابخښي ۔ مونږ چې کله پهٔ کتاب دَ سيريزې پهٔ طور څهٔ ليکو نو ډېر څهٔ مو پهٔ زړهٔ کښې وي۔ خو چې کله خپل ادبي ژوند ، کلتور او روایاتو ته وګورو نو ټول معيارونه مو پهٔ زړهٔ کښې قېد پاتې شي، او نهٔ خپل لوستونکے پوهه کړے شو او نهٔ خپل شاعر پهٔ دې خبر کړے شو چې تهٔ يا صبر وکړه او يا کم از کم هاغه ځائے ته ځان ورسوه چې څهٔ دَ موجوده شاعرۍ معيار دے۔ پهٔ دواړو صورتونو کښې مونږ دَ خپل شاعر دَ فن دَ معيار پهٔ اسرار و رموز هغه پوهه

نۀ کړے شو او دیو تاوان سره مخ شو ۔ بیا هم چونکې دَ خپل دغې کلتور او روایاتو نه مجبور یُو چې دَ خپل شاعر دَ خوښې خیال اوساتو ۔
رفیق یوسفزے چرته پۀ بهر مُلک کښې سبق وائي۔ زما سره ئې پۀ فون دَ اولنو خبرو نه ما دا تاثر اخستےؤ چې دے زما دَ شاعرۍ مئین لوستونکے دے ۔ پۀ دوہم دریم ځل هغه ماته خپل شعرونه واؤرول او زما نه ئې پۀ هغې دَ اصلاح اخستو کوشش وکړو ۔پۀ پینځم شپږم ځل ئې هم دغسې وکړل ۔ نو ما پۀ زړۀ کښې اووې چې دے زما دَ شاعرۍ نه متاثر شوے دے او زما اصلاح ئې هم خوښه ده ۔نو ځه چې دے دَ دومره لرې نه داسې کوي نو زۀ بۀ ئې تر خپله وَسه ضرور مدد کوؤم ۔ حالانکه پۀ دغه دوران کښې دَ هغه یو خپلوان ماته دَ هغه چاپ کتاب هم راکړےؤ خو زمانه بیا هیر وو ۔ بیا هغه یوه ورځ فون وکړو وئیل ئې زۀ در روان یم او وادۀ بۀ مې وي ۔ هغه راغے او وادۀ ئې وشو او بیا زما خواله هم راغے ۔حال دا دے چې دَ هغه خپلوانو زما دَ پاره دَ واده بلنه هم راوړې وه خو زۀ دیر ته دغې وادۀ له ونۀ رسیدے شوم ۔
بیا هغه دَ خپل دویم کتاب دَچاپ کولو شوق ښکاره کړو ۔ ماته پۀ دې مئینځ کښې دغۀ دَ اصلاح خبره یوه بې ځایه

خبره ښکاره شوه ـ ځکه چې ډېره زر هغه دَ دغې کتاب دَ سيريزې پهٔ فرمائش زما دَ اصلاح هسه وکړه ـ بيا هم کوشش کوؤ چې زهٔ دَ هغه اصلاح وکړم او هغه زما اصلاح وکړي ـ ځکه چې قاعده هم دا ده چې مونږ دَ يو بل نه زده کړه وکړو ـ

دَ هغه دَ دې کتاب نوم دے " پهٔ اورونو کښې ګُلونه " ـ پهٔ اورونو کښې ګُلونه ډېر غټ کتاب دے او چې دَغه ما ولوستو نو پوهه شوم چې دے خو ښهٔ پوخ شاعر دے ـ او هغه دَ چا خبره دَ ډېرو ژرندو نه وتې سپګې ده ـاوس دغه کتاب زما مخې ته پروت دے ـ پهٔ دې کتاب کښې غزلونه ، نظمونه او قطعې شاملې دي۔ او سندرې هم پکښې شته ـ ټولې ښې دي او تر خپله وَسه ئې پکښې دَ خپلو جذبو او دَ ژوند ژواک اظهار هم کړے دے ـدَ شعر ژبهٔ او انداز ئې ښهٔ روان دے ـلا خو ځوان دے او شايد چې کهٔ دغسې ښهٔ روان وي نو اميد ترې کېدے شي چې دَ سبا دَ پاره دَ دې نه هم ښهٔ شعرونه وليکي او زمونږ پهٔ ادبي ژوند دَ يو ښهٔ فنکار شاعر اضافه وکړے شي۔

رفيق يو تعليم يافته او پوهه انسان دے ـ جذبې ئې دَ شعر دپاره ډېرې خوږې او رښتُنې دي۔ خو ضروري نهٔ ده چې زهٔ پهٔ دغه ټولو اصنافو خبره وکړم ، بلکه دَ خبرې دپاره دَ هغه

غزل ته رجوع کوو ۔ ځکه چې غزل يو داسې صنف دے چې دَ شاعر پته پکښې پۀ ټيک طريقه لګېدے شي۔
تاسو دَ هغه دَ غزل دا دوه شعرونه وګورئ ۔

زۀ پېدا ژړا لـه يم ، او تـۀ پېـدا خنـدا لـه يـار
وخانـده ښـۀ وخانـده چـې راشـي ژړا مالـه يـار
دوه ورځـو لـۀ راغلـې مُسـافره بيـا سبا بـۀ ځـې
بيـا بـۀ ورځـې شمارم انتظار بـۀ وي تـر کالـه يـار

دَ دې شعرونو نه مونږ ډېرې معنې پېدا کولے شو او ډېر ټکونه پرې هم کولے شُو۔ خو کۀ مونږ پۀ دې غور وکړو چې دے کۀ هر څو دَ يو ښۀ مقصد دپاره بهر تلے دے ۔ بيا ئې هم پۀ ذهن کښې دغه مُسافري سوَره ده او کۀ مونږ دَ ده پـۀ اوسنې واده کړي ژوند غور وکړو نو پوهه بۀ شُو چې ده تـه دغـه مُسـافري بـل څـوک وريـادوي ، او هـم پـۀ دې طريقـه زمـونږ دَ څـومره مُسـافرو دَ زړونـو ترجمـاني کـوي ، او دَ څومره مُسافرو نه دَ پاتې شوؤ معشوقو ګونګو جذبو تـه دَ شعر ژبۀ ورکوي۔ نو پوهـه بـۀ شُو چې زمونږ شاعر هسـي

کتاب نۀ چاپ کوي ـ مونږ ته څۀ وائي هم او څۀ وئيلے هم شي ـ مخښکې پۀ يو بل غزل کښې وائي چې

مالیار ئې زۀ یم ، دے دَ باغ پۀ بوټو لور لګوي
دا سړے څوک دے چې زما پۀ ګُلو اور لګوي

رفيق دومره نوې او دومره درسته خبره دَ غزل پۀ ژبه کښې کړې ده چې زمونږ خيال خپل خارج ته را اړوي او داسې تصوير رابخښي چې زمونږ حالات پکښې مونږ ته ښکاري ـ کۀ لږ غوندې هم چا پرې فکر اوکړو چې " دا سړے څوک ؟" چې داسې کوي نو دَ شاعر مقصد هم پوره شو او دَ شعر کار هم سر ته ورسيدو ، مخکښې وائي

څـۀ کـوي پـخـپـلـه نـاروا خلـق
څۀ ګورے تبرستي دي مُلا خلق

رفيق چې کله دَ خپلو حالاتو جائزه اخلي او تجزيه کوي نو دَ خپلې تجربې پۀ رڼا کښې مونږ ته دوه سوالونه مخې ته کوي چې څۀ ناروا خو خلق کوي خو څۀ مُلا هم تبريستي دي ـ دا خبرې دَ داسې مُشاهدې او تجربې نچوړ دے چې مونږ کۀ دغه تجربې پۀ ځان پخپله اونۀ کړو او دَ ده دَ

تجربو نه استفاده وکړو ۔ شايد چې پهٔ ګته کښې بهٔ پاتې شو ۔پهٔ يو بل غزل کښې هم دغه تجربهٔ نوره پهٔ مخکښې بيائي ۔
وائي چې

شين شم پهٔ خندا کښې دَ ژړا نه زهٔ
کېنم يوې خوا ته دَ دُنيا نه زهٔ
ما نه ئې پخپله لار غلطه کړه
پوزې له راغلے يم مُلا نه زهٔ

لوستونکي بهٔ پوهه شوي وي چې رفيق دغسې خبري ولې کوي ۔ پهٔ "پوزه" لفظ کښې هغه دَ ټول اولس دَ ترجمانۍ حق ادا کوي او حق ئې ادا کړے دے ۔ زهٔ کهٔ دغسې ډېر شعرونه رانقل کړم بيا بهٔ‌هم هغې ځائے له راځم چې کومه خبره سړے کوي ۔ کهٔ هغه تشه خبره وي نو هم چې کوم هنر پکښې دے نو پهٔ خلقو اثر کوي۔ خلق پرې سوچ کوي۔ خو کومه خبره چې سړے شعر ته راولي نو بيا دَ شعر خپل قوانين دي او دغه شعر بهٔ هم دغسې جوړوي او تراشي۔ څنګه چې ئې دغه جوړ کړي او تراشلي دي۔ دا کتاب چې ښهٔ ډېره شاعري ده پکښې کهٔ لوستونکي ئې اولولي نو دَ خپل خيال او زړهٔ مطابق او دَ حالاتو مطابق بهٔ پکښې ډېر

څهٔ ومومي او خوښ بهٔ ئې شي.زهٔ رفيق او دَ هغه قلم ته شاباسے وايم ـ خو دا ورسره هم وايم چې دَ شعر دَ جوړښت پهٔ وخت بهٔدَ شعر نه داسې پهٔ اسانه ځان نهٔ خلاصوي ـ تر څو چې د ے مطمئين شوے نهٔ وي ـ ځکه چې دَ شعر دَ تصوير نه لاس ونهٔ باسي ـ شاعري وائي هم دي ته ، چې سړے هر وخت دَ لفظونو سره لوبې وکړې او پهٔ دې پوهه وي چې کوم لفظ کوم ځائے کښې ښې معنې ورکولے شي. زهٔ دَ لوستونکو نور وخت نهٔ اخلم او عرض کؤم چې دا کتاب دې خامخا وګوري او خپل شاعر ته دې داد هم ورکړي او ډاډ هم ، چې دَ سبا دَپاره نور هم ډېر تيار شي.

پهٔ درناوي

**رحمت شاه سائل**

**۹ ستمبر ۲۰۰۹ ء**

**پاچا خان مرکز پېښور**

# دَ ښاغلي رفيق يوسفزے پښتون ژوند او پُښتنه شاعري پۀ لندن کښې

يو ځملے قلم پۀ لاس ، بې نيازه يو طرف تـه غلے ناست ، دَ مُسافرۍ سختو زپلے ، خو بيا هم پۀ مخ سکون او روښانه تندے ، پۀ يو کتابچه کښې خپل لمبۀ لمبۀ خيال دَ مينې پۀ پخو پـاڼو راکـوزول ، پـۀ سوراړا کښـې دَ لېلى دَ شال لاندې سر پۀ زنګون ، دَ ځيګر پرهرونه دَ قلم پۀ نوکه ګنډل ، دَ سترګو اوښکې دَ اميد سمندر کښې تويؤل ، دَ خوبولو سترګو اُودۀ ارمانونه دَ غمګين ماښام پۀ ټالونو ځنګوَل ۔دَ لندن پۀ يخو ماښامونو کښې دَ خپل مات نغري تـوده غـاړه ستائل او پۀ اورونـو کښـې ګُلونـه ليـدل او محسـسـول ، دا زما دَ افسانې کردار نۀ دے بلکه رفيق يوسفزے دے چې خپل دوئيم کتـاب " پـۀ اورونـو کښـې ګُلونـه " ئې دَ ادب پـۀ پرده ډېر پۀ ادب او خوَره سينه کېښودو ۔ اولنے قدم ئې " تۀ چې راغلې پسرلے شو" پـۀ منګـول کښـې دَ دې نـه وړانـدې اېښے دے ۔زۀ رفيق يوسفزے دَ هغه وخت نه پېژنم چې کله مونږ پۀ اسلاميه کلج پېښـور کښـې پـۀ يـو کـلاس کښـې او يو هاسټل "خوشحال" کښې پۀ يوه کمره کښـې دَ ايـف ايـس

سي هاغه ښائسته وخت تېرولو ـ دَ رفیق دَ ژوند خو ډېر اړخونه دي خو سر سري دا چې دَ دېر دَ دنګو غرونو او صفا چینو پهٔ شان پهٔ نیت سپین او دَ چینارونو پهٔ شان دَ دنګې لوړې حوصلې مالک دے ـ دَ ده تعلق دَ دیر سره دے او ځکه دَ هر شعر نه یې دَ اخلاص او دَ صداقت پلوشې خیژي ـ دَ اسلامیه کالج دَ وختو "1997" نه شاعري کوي او ډېره ښهٔ ئې کوي ـ دَ اسلامیه کالج نه پس ئې پهٔ کمپیوټر سائنس کښې شپاړسم دَ پېښور یونورسټۍ نه پهٔ ښو نمبرو پاس کړو او څهٔ وخت لیکچرارشپ نه پس ولایت (لندن) ته دَ نور اوچت تعلیم دَ پاره لاړو ـ

دا اتفاق دے یا بې کچه خلوص چې وخت مونږ ډېر ځله ډېر وخت بیا بیا مېلاؤ کړو ـ تېر کال 2008ء کښې یو ځل بیا مونږ پهٔ ولایت (لندن) کښې یو ځائے شو نو ما دَ رفیق دَ سختو ډک خو دَ محنت پهٔ برکت رنګ ژوند پهٔ یو نوي انداز ولیدو او ډېر متاثره شوم ـ خو حېرانتیا دا وه چې دَ شاعرۍ هاغه نشه ئې دَ مسافرۍ تریخو هواګانو نوره هم مسته کړې وه ـ او پهٔ دې وخت کښې ئې ډېر څهٔ لیکلي وو او ډېر ښهٔ ئې لیکلي وو ـ ما چې پهٔ هغه یوه میاشت کښې دَ ده نه څهٔ واوربدل نو پهٔ هغې کښې دَ یار نه تر اغیار ، دَ وطن نه تر چمن ، دَ اولس نه تر خلوص ، دَ وینې نه تر مینې

، دَ انکار نه تر اقرار ، دَ وخت نه تر بخت ، دَ لندن نه تر وطن پورې هر خیال ببل ببل ځان خوښے ځلېدو ۔ لکه چې وائي

چې سپرلے شي ماته ډېر ډېر رایادېږي
دَ خپل کلي تورو غرونو کښې ګلونه

او یو بل ځائے کښې لیکي

خوند نۀ کوي دلته دَ لندن هوا
ما ته رایادېږي دَ وطن هوا

دَ خپل قام دَ غربت نه ګیله مند دے او دَ زړۀ اواز ئې څۀ دا رنګ تر غوږو راځي۔

هغسې غربت راپسې شوے دے
تختمه دَ دې تورې بلا نه زۀ

دغه شان ئې معصومه مینه هم پۀ درد کښې سکون لټوي او وائي۔

یه رفیقه نور هم بې قراره شم
لږ چې مې قرار دَ زړۀ زخمونه شي

یادونه ئې هم لکه ماران چیچي نو ګویا شي.

غمونه دَ جانان څهٔ وي خوبونه رانه یوسي
بس څنګه چې رفیقه نیمه شپه شي راچوکه شي

دَ مُسلمان اولس غم ئې هم زړهٔ خوري او وائي

دَ خدائے دا لویه زمکه تنګه شوله
پهٔ یو انسان دَ بل انسان دَ لاسه

رفیقه نن لګي دَ کُفر فتوې
پهٔ مُسلمان دَ مسلمان دَ لاسه

پهٔ کچه عمر کښې ډېر پوخ نصیحت ، دخپل پښتون قام پهٔ نوم څهٔ پهٔ دي ډول کوي

نهٔ پهٔ زنداباد ، نهٔ مُرداباد کیږي
نهٔ پهٔ ژړاګانو او فریاد کیږي

کار پهٔ اتفاق او اتحاد کیږي
بل پهٔ تېره تُوره او جهاد کیږي

څنګه چې ما عرض اوکړو چې خپله عاجزي او سادګي رفیق له نور هم لوړ مقام ورکوي . لکه چې وائي

خوب دَ بې غمۍ وي پـۀ جونګړه کښـې
ورک دي دَ محـل خوَشـي خوبونـه شـي

دَ هر رنګ ګُلونو دا مجموعه ډېره زر کتابي شکل کښې راتلونکي ده ـ څنګه چې ما خپل کتاب "نظر پاڼه کښې " کښې دَ رفیق باره کښې ذکر کړے ؤ ـ چې دا ډېره دَ فخر او ویاړ خبره ده چې دَ سائنسي تعلیم باوجود رفیق خپل اولنے کتاب " تۀ چې راغلې پسرلے شو" چاپ کړے او خپلې مورنۍ ژبې سره ئې دَ اخلاص مظاهره کړې ده ـ
دَ پښتو دَ ادب سترو شاعرانو ته دا عاجزانه درخواست دے چې مونږ دې نوؤ شاعرانو سره رعایت وکړي او فې الحال دې مونږ دَ بې رحمه نقادانو دَ چړو نه اوساتي ګني مونږه ناپوهو لۀ خو دَ پرهرونو ګنډل هم نۀ راځي۔
هیله لرم چې دَ رفیق یوسفزے دَ خلوص ډک کلام بۀزمونږ سترو شاعرانو او مشرانو له دَ خوشحالۍ او دَ همزولو لیکوالو لره دَ فخر او ډاډ باعث وګرځي ـ

لاس پۀ دُعا

**انجنئیر فارور خان فاروق**

Senic co-ordenater infrastructure
ARC international
Pakistan Program
(Www.nazarpanra.page.tl)

www.pukhto.net

# خپلې خبرې

" پهٔ اورونو کښې ګُلونه " زما دوئیم کتاب دے۔زما رومبے کتاب هم ښاغلو لوستونکو ډېر خوښ کړے ؤ او ما ته ئې ډاډ او حوصله راکړې ده ۔ هم دغه حوصله زما ملګرې شوه چې ما خپل لیک جاري وساتلو ۔
" پهٔ اورونو کښې ګُلونه " چې څنګه دَ لفظونو یو حسین امتزاج دے هم دغسې ژوره معنیٰ هم لري ۔ هیله ده چې لوستونکي بهٔ هم دغه رنګ دَ حوصلې سره ماته زما کمزورئ هم پهٔ ګوته کړي او ما ته بهٔ دَ مخکښې تګ لارې اسانې کړي۔
زهٔ اکثر دَ انګریزۍ دِ یو سکالر دا خبره نقل کووم وائي چې

Most of the people don't like most of the poetry, because most of the poetry ignores most of the people.

دا خو هر څوک مني چې شاعر دَ ماحول غلام وي ۔ کله یو رنګ کله بل رنګ لیکل کوي ۔ پهٔ چا بهٔ یو رنګ شعر ښهٔ لګي پهٔ چا بهٔ بل رنګ ۔ ځکه چې هر هاغه شعر دَ انسان

www.pukhto.net

خوښېږي چې هغه دَ هغۀ دَ ذهن او دَ ژوند سره نسبت لري ـ مطلب مې دا دے چې شاعر تخليق کار وي دَ معاشرې معمار وي ـ پکار ده چې داد ورته ضرور ميلاؤ شي، اور حوصله ورته ورکړے شي ـ

"پۀ اورونو کښې ګلونه " کښې دَ ډېرو شاعرانو او ملګرو اصلاح او مشورې شاملې دي۔ پۀ خاص طور حيسن احمد صادق صيب چې زۀ ئې هر وخت خپل نظر کښې ساتلےيم او وخت پۀ وخت ئې زما اصلاح کړي ده ـزما استاذ اباسين يوسفزے صيب چې ما دَ شاعرۍ "الف" "ب" دوئي ته پۀ اول ځل اورولي دي۔ او دوئي دَ دغه وخت نه تر اوسه پورې زما ښۀ پۀ روڼ تندي اصلاح کړي ده او کوي يې ـ

سائل صيب خو ټوله دُنيا پيژني ، زما دَپاره لوئې دَ فخر خبره ده چې زما پۀ کتاب ئې سريزه وليکله ـ

ښاغلے انجنئيرفاروق صيب زما زړه پورې ملګرے دے ـ چې کله بۀ لندن ته راغے نو اکثر بۀ مونږ زړې قيصې او نوې شاعري کوله ـ ډېر ښۀ شاعر او ښۀ نقاد دے زما پۀ شعرونو بۀ ئې هم کله نا کله پۀ ګپ شپ کښې تنقيد اوکړو۔ زۀ پخپله اصلاحي تنقيد ډېر خوښووم او هر کلے ورته وايم ځکه چې انسان ته دَ خپلې کمزورۍ احساس وشي ـ پورته ذکر شوي هاغه هستئ دي چې زۀ ئې بې حده

مشکور یم۔الله دې دَ دوئي له دا نېکې جزبې دَ پوره اولس پۀ ښیګړه راولي ۔"آمین"
زما کشر زما دَ ماما ځوئي فلک ناز چې کله هم زما شاعري اوریدلي ده نو خوښه کړي ئې هم ده او زما سره ئې پۀ عملي توګه هر قسم تعاون کړے دے۔ زۀ ئې دَ زړۀ نه شکریه ادا کووم ۔
خیام یوسفزے صیب ډېر پۀ هنر دَ دې کتاب سر پاڼه جوړه کړي ده مننه ئې کووم چې پۀ ډېر مصروف وخت کښې ئې ډېر زر دغه ښکلا دې کتاب ته ورکړه۔
دَ وسیم دربار صیب خصوصي مننه چې دَ دې کتاب پۀ دوئېم ځل کمپوزنګ ته یې ملا وتړله ۔
دُعا کووم چې الله دې زما قلم دَ پوره انسانیت ، دَ اسلام ، دَ خپل وطن ،ټولې پښتونخواه او دَ ټولو پښتنو پۀ کار راولي ۔

آمین

**پۀ ډېره مینه**

**رفیق یوسفزے**

# نعت شريف

ستا نامه ده لازواله
هر يو کار دې يو سنت دے
هم جمال دے هم جلال دے
دَ کمال دې شخصيت دے
زهٔ منمه چې بنده يې
خو خوبۍ دې دَ اسمان دي
يوهٔ معصومه فرښته يې
او اخلاق دې دَ انسان دي
ستا دَ مخه دے جوړ شوے
ټومره لوئې دے کائنات
ځومره لوئې مقام درکړے
هغه لوئې دَ خدائے ذات

www.pukhto.net

کـهٔ دُنیـا ټولـه دَ سـرو شـي
سـتا قیمـت بـهٔ پـوره نـهٔ شي
تـــهٔ ســـردار دَ انبیـــاء یـــې
سـتا صـفت بـهٔ پـوره نـهٔ شي
دَ اســـلام یـــوه ډیـــوه یـــې
ځـــي رڼـــا دې لا خـــوریږي
تـــهٔ دَ علـــم ســـمندر یـــې
چـې ئـې سـر نـهٔ معلـومیږي
نـهٔ پوهیږمـه چـې څنګـه
ســـتا خـــوبۍ کړمـــه بیـــان
زهٔ عــــــاجزه ګنهګـــــار
تـــهٔ نبـــي دَ ټـــول جهـــان

****

www.pukhto.net

تـا نيـولي سـرو لاسـونو کښـې ګُلونـه
کـهٔ زهٔ ويـنم پـهٔ ګُلونـو کښـې ګُلونـه

هـر يـو غـم مـې پـهٔ خنـدا خنـدا زغملے
رازغـون شـو پـهٔ اورونـو کښـې ګلونـه

چې سپرلے شي ماته ډېر ډېر رايادېږي
دَ خپـل کلي تـورو غرونـو کښـې ګلونـه

دا دے مـا درلـه ربـښتيا ګلونـه راوړل
تـا غوښـتل رانـه خوبونـو کښـې ګلونـه

دَ رفيــق مينــه ســوچه ده معلــوميږي
راتـه وکيږي ئـې شـعرونو کښـې ګلونـه

****

نۀ راځي جانان زما ، ارمان ارمان
نـۀ رڅي ارمـان زمـا ، ارمـان ارمـان

مـا دَ لبونتـوب مِعـراج ليـدلے دے
ځيري دے ګرېوان زما ، ارمان ارمان

څومره ښکلې مرې سترګې راواړوې
ستا نه شۀ قربان زما ،ارمان ارمان

زۀ پـۀ غرېدلو سترګو خوب کووم
نۀ ورځي چشمان زما ، ارمان ارمان

نـۀ بـدلوي زړۀ او نظـر مـا سـره
نـۀ مني نادان زمـا ، ارمـان ارمـان

www.pukhto.net

زهٔ بهٔ دَ بل چا نه ګيلې څهٔ وکړم
نهٔ اورې خپل ځان زما ، ارمان ارمان

ستا پهٔ يو نظر باندې لمبهٔ شومه
وشو ښهٔ تاوان زما ، ارمان ارمان

عقل خو رفيقه خپل غلام ګڼي
زړهٔ دَ وَچې خان زما ، ارمان ارمان

****

# عشق

عِشَق يو احساس دے ، دا خو نهٔ لري وجود
داَ د زړهٔ جذبهٔ ده ، چې ئې نشته څهٔ حدود

موسیٰ ورپسې تلے ، پهٔ طرف دَ کوهِ طور
خليل پسې دانګلي ، سور اور ته د نمرود

****

تُخم بهٔ دَ میني پهٔ هر لور کرَم
خلق کهٔ ئې ریبي زهٔ بهٔ نور کرَم

سر دَ هر ظالم بهٔ خوري بچے بچے
دا دے پهٔ سینو کښې ورله اورکرَم

چا چې لګولے اور پهٔ ګل وطن
زهٔ بهٔ ئې لمبهٔ لمبهٔ پهٔ کور کرَم

زر بهٔ دَ دې خاورې خزان خاورې شي
زهٔ پکښې سپرلي ښکلي سمسور کرَم

چا چې ګل دَرې زمونږ سیزلې دي
لوئې اتش فشان بهٔ ئې پهٔ لور کرَم

چا چې قربان کړے سر پۀ ګل وطن
ګُل ګل سلامونه ئې پۀ ګور کرَم

سر چې ئې رفيقه مدام ښکته شي
اور بۀ هر دښمن ته دَ پېغور کرَم

****

# صلی اللّٰه

پۀ دنيا کښې داسې رنګ بۀ پېدا نۀ شي
ستا پۀ شان بل غنم رنګ بۀ پېدا نۀ شي

چې دَ چا پۀ زړه کښې ستا پاکه نامه ده
دَ هغۀ پۀ زړه کښې زنګ بۀ پېدا نۀ شي

****

www.pukhto.net

څـۀ پـۀ هنـر څـۀ پـۀ خنـدا مـې وژنـې
جانانـه هسـې بـې ګنـاه مـې وژنـې

زۀ چې پۀ خپل کور کښې ډيوې بلووم
پـۀ تـا څـۀ چـل کيـږي رڼـا مـې وژنـې

نـن دې رقيـب تـه بيـا خنـدا وکړلـه
پرېږدې مې نۀ اوس خامخا مې وژنې

هسـې مـې ځـان غلے کړو مړ نـۀ يمـه
ځکـه چې وايـم څۀ نو بيـا مـې وژنـې

دروغ خبـره زۀ کـولے نـۀ شـم
رښـتيا چې وايم پـۀ رښـتيا مې وژنې

نن خو دې ګُلې زُلفې بيـا ګُورې کړې
ښـکاري چې تـۀ پـۀ دې بلا مې وژنې

www.pukhto.net

پهٔ زور دې لاس رابانديږ بر نهٔ شوخو
اوس پهٔ خندا اوس پهٔ رضا مې وژنې

زهٔ دې رفيق يم تهٔ مې چرته بوځې
خدائے خبر چرته نن پهٔ چا مې وژنې

****

## ژوند

ورو ورو بهٔ تشيږي اخر ډک جام بهٔ شي خلاص
زهر زهر ژوند دے خو ګوټو ئې پهٔ اخلاص

چا بانديږ اباده خو پهٔ چا ده هسې ډکه
ښهٔ لويه دنيا ده خو پهٔ شمېر دي پکښې خاص

****

الله خبر چې غم بۀ ؤ پۀ چا پۀ نیمه شپه کښې
ما اوربده پۀ کلي کښې ژړا پۀ نیمه شپه کښې

مخکښې دَ وینځلو نه دې مخ ته سحر وګوره
درغلے تصوّر کښې ووم بېګاه پۀ نیمه شپه کښې

خدائے خبر چې څۀ رنګ ورځې شپې بۀ دې تېرېږي
هم دا کرَل رېبل کووم اشنا په نیمه شپه کښې

زۀ ناست یمه غزل لیکم خو خلق تول اودۀ دي
بَلېږي راته هغسې رڼا پۀ نیمه شپه کښې

رفیقه ستا پۀ غېږ کښې تربنه بنۀ دَ مزې پټ شوم
لیلدلي مې پۀ خوب کښې وه بلا پۀ نیمه شپه کښې

****

تَبـر همېشـه ځـان تـه نـزدې وهـي
څنګـه پښـتانهٔ دي خپلـې پښـې وهـي

پتـه بـهٔ ئـې نـن هـم پـهٔ مېـدان لګـي
ګـوره رقيبـانو تـه مـورچې وهـي

لوټ دې ښکاره مخ پـهٔ رڼا ورځ کړمـه
غـل هـم تربـوزک د نيمـې شـپې وهـي

مينـې کـهٔ دې زهٔ سـتې پتـې کړمـه
خېـر دے پتنګـان بلـې لمبـې وهـي

www.pukhto.net

شُونډې چې دې بيا ولې انکار کوي
سترګې خو دې ما پسې حملې وهي

کور ته چې پهٔ وخت رفيقه رانهٔ شي
مور دې وار خطا درته نعرې وهي

****

## سوال جواب

ستا دَ مخه کهٔ عذاب دے کهٔ ثواب دے
پوخ ايمان مې هم دَ مينې په کتاب دے

ستا دَ خُلې خبرې څهٔ دي خندا څهٔ ده
دا زما دَ مينې سوال او ستا جواب دے

****

مـا بـهٔ څـهٔ ګنـاه وي کـړي
لوپټــه بانـدې مــې تــړي

تماشــې ګــوره د زلفـــو
پـــهٔ مــزه مــزه ئــې ســپَړي

بيـا اوږدې کمڅـۍ جـوړيږي
جـــوړې پَــړې رالـــه غَــړي

سپے پهٔ ما پسې را تـو کړي
دَ کـوڅې نـه مـې هـم شَـړي

دَ پټـــي پـــهٔ پولـــه ناســـته
دَ کَـــــدوانو کَـــــري زَړي

پۀ خندا مې زړګے خور کړي
بيا پۀ سترګو کښې مې نغړي

ستا رفيق لېونے شوے
کلک ئې وتړه پۀ پَړي

****

## تهال

پرېږده غزل مې د خُمار نه ډک کړه
پۀ مخ دَ زُلفو سيورې مۀ ځنګوه

تهال دې دَ خپلې لوپټې نه جوړ کړه
سترے يم ما پکښې لږ وځنګوه

****

مـا پسـې خـزان خـزان ازغـي ګرځـي
تـا پسـې ګلونـه هـم سـپرلي ګرځـي

بنـد شـومه د يـار کلـي کوڅـه بانـدې
مـا پسـې رقيـب لکـه د سـپي ګرځـي

لـږ د زړهٔ بيمـار ووم خـو نـور ښـهٔ وومـه
اوس رابانـدې سـر يـاره بيخـي ګرځـي

روغ خلـق د کـور نـه بهـر نـهٔ ووځـي
پښـې ابلـه غرمـه کښـې لېوني ګرځـي

در پـهٔ در رفيـق د مينـې خبـر غـواړي
ځان سره کچکول تش ګرځوي ګرځـي

****

www.pukhto.net

نهٔ غـل لوپتـه یـوړه نـهٔ شـمله دې کـړه چـا پتـه
خـو خپلـه بـې غـېرتـه شـوې پښـتونه بـې غـېرتـه

سـتا پـلار نیکـه سـاتلې وه تـېره تـوره دښـمن لـه
نـن سـتا هسـکه غـړۍ شـوله اغیـارو تـه راښـکته

څهٔ پهٔ بې شرمۍ دمه غدېرې ستا کالـه کښـې هم
او تـا د بـې ننګـۍ ورتـه وهلـې ده پرلتـه

زور دې شته پښتونه خو بې حِسه ئې خپل ورور وژنې
لا پروت ئې پهٔ غفلت کښې ضمیر نهٔ کړې ملامته

تـوره دې قلـم کـړهٔ دې حـالاتو تـه رفیقـه تـهٔ
بیـا وشـلوه سـینه پـرې د بـې ننګـه او بـې پتـه

****

www.pukhto.net

څهٔ خوږه قیصه کوي
ما نه چې ګیله کوي

زُلفې ئې راسپړدې دي
واه څومره مزه کوي

مونږ بهٔ لوګے کیږو نهٔ ؟
مخ چې ئې لمبهٔکوي

پېغله پُښتنه ښکلې
خوند ئې لوپټه کوي

بیا رفیق غزل لیکي
بیا نوې ټپه کوي

****

نــن پرېــږده لېــونے۱ چــې لېــونے لېــونے کیــږي
پــهٔ دې ګرانــه ګرانـی کښــې هــر ســړے لېــونے کیــږي

کـه یـو خـوا تـه خټک۲ پـهٔ اور کښې سوزي لـوګے کیـږي
نـو بـل خـوا هـم پـهٔ سـوات کښـې روغـانے۳لېـونے کیـږي

غني۴ دے کهٔ خوشحال۵ دے کهٔ سائل۶ دے کهٔ صادق دے۷
تــه ګــوره اباسیــن۸ شــو ګرَنــدے لېــونے کیــږي

ګـودرو کښـې منګـي اؤ پـهٔ حجـره کښـې چیلم مات شو
د کلــي هــره پېغلــه هــر ځلمــے لېــونے کیــږي

نو څهٔ بهٔ اوس خليل ته سره اورونه شي ګلونه
پهٔ دې ظالم وطن کښې خو سپرلے لېونے کيږي

لويه خدايه څهٔ بهٔ کيږي خلق ټول شو لېوني
بې ځانه شو رفيق پکښې تېرے لېونے کيږي

****

۱) اکمل لېونے ۲) اجمل خټک
۳)عبدالرحيم روغانے ۴)غنی خان بابا
۵) خوشحال خان بابا ۶)رحمت شاه سائيل
۷) حسين احمد صادق ۸) اباسين يوسفزے

## وېش

عقل کهٔ چرته خرڅېدے پهٔ بازار
خلقو بهٔ ځان له پهٔ پېسه اخستے

ښکار کهٔ د هر چا وے د وَس خبره
ځان له بهٔ هر سړي لينده اخستے

****

ډېر ترېنه خفه غوندې رخصت شومه
نن ترېنه پۀ شپه غوندې رخصت شومه

ډېره مېلمستیا ئې راله وکړه خو
بیا ترې د مېلمه غوندې رخصت شومه

جوړې پۀ خبرو کښې خبرې شوې
زۀ ترې پۀ غصه غوندې رخصت شومه

ټوله ورځ مو تېره پۀ ګپ شپ کړله
بیا ترې پۀ مزه غوندې رخصت شومه

نن ئې خواله راغلمه دغه غوندې
بیا ترېنه دغه غوندې رخصت شومه

سترے ستړے راغلم د رفیق خواله
بیا ترېنه دمه غوندې رخصت شومه

****

خدائے خبر څهٔ وو پټ پهٔ ځیګر کښې دَ دلبرې
ورانه ښکارېده دُنیا نظر کښې دَ دلبرې

بس هسې ښکارېده چې سره ګُلونه وو خواره
نور ګنې ازغې وو پهٔ بستر کښې دَ دلبرې

وَچې وَچې شونډې پهٔ زړو جامو کښې راغله
سرهٔ نهٔ وو لاسونه پهٔ اختر کښې دَ دلبرې

ځان لهٔ بیابان کښې پهٔ ژړا وه راروانه
څهٔ خاورې خزلې وې پهٔ سر کښې دَ دلبرې

شپه وه دَ وصال رفیقه تېره شوه پهٔ منډه
شوې یخې منګولې پهٔ سحر کښې دَ دلبرې

****

مړهٔ مړهٔ دې کاتهٔ پهٔ څهٔ
وړو دې رانه زړهٔ پهٔ څهٔ

ستا د نظر لوبې دي
شو پرهر اوبهٔ پهٔ څهٔ
ستا سره دے غم دَ ځان
زهٔ پهٔ څهٔ او تهٔ پهٔ څهٔ
تهٔ چې بې ګناه ئې یار
اړَوې لېمهٔ پهٔ څهٔ
ښې وې تورې سترګې خو
راوړمه رانجهٔ پهٔ څهٔ
تهٔ چې راته ګورې نهٔ
زهٔ بهٔ شمه ښهٔ پهٔ څهٔ

پوئې نهٔ شوم رفیقه یار
بیا مرور تهٔ پهٔ څهٔ

****

www.pukhto.net

وخت چې دَ دیدن وي کروکور شمه
خلق راته ښکاري نهٔ شمکور شمه

ستا خواله پهٔ یوه منډه درورسم
زهٔ چې د خیالونو پهٔ اس سور شمه

ستا د قدم خاورې خُلې ته واچووم
زر دې بیا پهٔ پلونو ورنسکور شمه

ګورم چې انسان پهٔ زنځیرونو کښې
چغې کړم ، غصه شمه ، پهٔ شور شمه

درې رنګونه واړؤم ژړا کښې زهٔ
شین شمه ، بیا سور شمه ، بیا تور شمه

خبر دے کهٔ دې قتل کړې رفیق ګُلاب
خور لکه نګهت بهٔ پهٔ هر لور شمه

****

هغه ورځ پۀ ما لکه اختر لګي
کله پۀ جانان چې مې نظر لګي

کله د ښو کله د کاڼو وار
کله مې ځیګر کله مې سر لګي

ما باندې د هجر شپه تېرېږي نۀ
تا باندې جانانه زر سحر لګي

زلفې دې د مخ نۀ پۀ شا واړوه
شونډو نۀ دې اور ګوَرے پۀ غر لګي

یو مې مستانه غوندې سپرلے وي خوښ
بل مې ستا د کلي مازیګر لګي

غلې شان مُسکا غلي پۀ ترس کاتۀ
خوند کوي رفیقه برابر لګي

****

غضب غضب کاته ئې حادثه شي راچوکه شي
بيا واوړي دَ خندا نه پۀ شا شنه شي راچوکه شي

بس کله دَخزان سپيره سيلۍ شي رنګ مې يوسي
خو کله د سپرلي ښکلې وږمه شي راچوکه شي

چې سوزمه زۀ سوزم سوے سکور دَ هجر اور کښې
ستا مينه هم جانانه بيا لمبۀ شي راچوکه شي

تنګ دې هم يادونه شو زما دَ ژړيدو نه اوس
چې ټوله شپه مې شوګيره شي راچوکه شي

غمونه د جانان څۀ وي خوبونه رانه يوسي
بس څنګه چې رفيقه نيمه شپه شي راچوکه شي

****

بیــا دې زُلفــې جــوړې کــړې پــۀ هنــر دي
بیــا دې ســترګې تــورې کــړې مــازیګر دي

ســره جــوړه او ســرې نکریــزې دَ اختــر دي
سـرې لمبې هـم خـورې شـوې پـۀ ګـودر دي

سـپینې واورې پـورې شـوې پـۀ هـر غـر دي
پلوشــې ښائســته نــرۍ نــرۍ دَ نمــر دي

کــۀ مُــلا کَــړې دَ حــورو پــۀ ممبــر دي
ســتا دَ حُســن قیصــې تولــو نــه بهتــر دي

دا مارغـــان چــې پــهٔ چَغـا چَغـا ســحر دي
دا هم ستا پهٔ ورد کښې داسې پهٔ شور شر دي

ســتا يادونــه مــې راغلــي پــهٔ ځيګــر دي
بيــا مــې شــونډې پرانســتلې هــر پرهــر دي

ډېــرې ســختې مــې راغلــې پــهٔ دې ســر دي
يو هجران کښې مې لېمهٔ پهٔ اوښکو تر دي

دا بــې حســه خلــق څــومره ســتمګر دي
دوئــې دَ چــا دَ زړهٔ لــهٔ درده څــهٔ خبــر دي

ستا قيصې خوږې خوږې لکـه شـکر دي
دَ رفيـــق خبـــرې ځکـــه مختصـــر دي

****

زما حق که چا خوړلے دے ډېر مخکښې
خو خپل غل مې پېژندلے دے ډېر مخکښې

کهٔ ښکاریان زما دَ بڼ مرغو ته غلهٔ دي
ما ښکاري ترېنه ویشتلے دے ډېر مخکښې

کوم دښمن چې پهٔ دې خاوره ښکاره شوے
نو سائل[1] هم پېژندلے دے ډېر مخکښې

د مظلوم پهٔ حق چې کله ډاکه شوې
نو صادق[2] پرې ژړېدلے دے ډېر مخکښې

[1] رحمت شاه سائل [2] حسین احمد صادق

د اغيـــارو لارې تــولې بنـــدې شـــوې
اباسـين[1] هـم راوتلے د ے ډېـر مخکښــې

کـــوم مُـــلا چـــې ګـــډې وډې دي وئيلـــې
غنــي خــان[2] هغــه رټلے د ے ډېـر مخکښــې

اے رفيقــه پښــتنې تــوري تــه لاس کــړهٔ
خوشحال خان[3] پهٔ دې لار تلے د ے ډېر مخکښې

****

[1] اباسين يوسفزے [2] غني خان [3] خوشحال خان بابا

## غفلت

دا بهٔ ستا کرَم وي پهٔ ما ګرانه خالي لاس شومه
چرته خو يو ګل راوړه جانانه خالي لاس شومه

هيڅ پهٔ لاس کښې رانغلهٔ هغه دنيا نه دا دنيا
لاس ورپسې مروړمه حېرانه خالي لاس شومه

****

داسې دې غصه کښې رُخسارونه شي
اُور کښې رازرغون لکه ګلونه شي

خوب دَ بې غمۍ وي پۀ جونګړه کښې
ورک دې د محل خوَشي خوبونه شي

مخکښې شي شغله شغله رڼا خوره
کړس شي بيا خندا دې تندرونه شي

اوس چې دې يادونو لاره هېره کړه
اوس بۀ مې مشغول پۀ څۀ فکرونه شي

هسې پۀ ارمان ارمان ئې مړ شمه
زلفې چې دې ګُورې غرونه شي

داسې خو نسيم نۀ شي سپړدے غوټۍ
ځنګ چې دې مسکۍ شونډې ګلونه شي

يــه رفيقــه نــور هــم بــې قــراره شــم
لــږ چــې مــې قــلار د زړه دردونــه شــي

****

# احساس

داسې دې يادونه زمونږ زړونه کړي خواره واره
ځنګ چې يو ماشوم لکه ګلونه کړي خواره واره

ورک چې ترې زما د لاس خطونه تصويرونه شي
دومـره شـي اوتـره کتابونـه کـړي خـواره واره

****

زۀ پېدا ژړا لـه يم او تـۀ پېدا خندا لـه يار
وخانده ښـۀ وخانده چې راشي ژړا مالـه يار

دوه ورځو لـه راغلې مسافره بيا سبا بـۀ ځې
بيا بـۀ ورځې شمارم انتظار بـۀ وي تر کالـه يار

يو ځل چې سرے چاته د زړۀ پـۀ سترګو وګوري
نـۀ ووځي بيا نـۀ ووځي هيڅ کله ئې د خيالـه يار

سل کورونه وران کړۀ پردي خپل کور بۀ اباد نـۀ کړې
زۀ چې دې خفه کړم تـۀ بـۀ څنګه شې خوشحاله يار

زۀ رفيق پـۀ تا پسې د خپلـه ځانـه ورک ګرځم
لـږه شان رڼا غواړمه ستا د ښکلي خالـه يار

****

www.pukhto.net

درد بـهٔ وي پرهـر چـې وي
سـتا خمـار نظـر چـې وي

خلاص بهٔ لهٔ پېغور نـهٔ شـم
هاغـه دَ بـام سـر چـې وي

زر بـهٔ سـرهٔ لمبـهٔ شـمـه
وِصـل مـازيګر چـې وي

خـود بـهٔ لېـونے ګـرځم
دا لاره ګـودر چـې وي

بيـا بـهٔ مسـافر يمـه
دا ځلـې اختـر چـې وي

رنـګ بـهٔ د رفيـق وي زيَـړ
ستا غونـدې دلبر چې وي

****

څهٔ خوږې وعدې دې اشنا کړې دي
زهر دې پهٔ ګوړه کښې راکړې دي

ما باندې چې ښې ورځې راغلې دي
شپې مې شوګېرو کښې سبا کړې دي

ټولې خوشحالۍ دې يوړې غېږه کښې
ما ته دې غمونه پهٔ شا کړې دي

څنګه چې دې نن ووې چې بيا بهٔ شي
هر ځل دې هم دا رنګه بيا کړې دي

يار ووې رفيقه يو زهٔ نهٔ يمه
ما غوندې دې ډېر پهٔ هوا کړې دي

****

ما وې پهٔ اختر کښې بهٔ زهٔ ښکلې جامې واغوندم
ځمه مزدورۍ له بیا مښلې جامې واغوندم

تنګ شوم ډېر خدائیګو دَ انګریز دَ پېنټ پتلون نه زهٔ
کله بهٔ شلوار قمیص او خپلې جامي واغوندم

بس دَ مسافر دَ ژوندون حال به درته څهٔ وایم
کله مې لمدې خوشتې وېنځلې جامې واغوندم

غوارم چې تهٔ ښکلې مخملینه جوړه واغوندې
خبر کهٔ زهٔ سورې سورې شلیدلې جامې واغوندم

نن ئې راته وې رفیقه هسې رقیب وسوزي
زهٔ چې ستا دَ خوښې هم ګنډلې جامې واغوندم

****

پښتو نیټ PUKHTO.NET

تــا وې رایــاد ېږې راتــه تــهٔ
مـا وې چـې هېرېږې بـهٔ پـهٔ څـهٔ

تــا وې کــهٔ دې بیــا راوکاتــهٔ
مــا وې رانــه اوباســه لېمــهٔ

تــا وې راتــه مــهٔ ګــوره تــهٔ مــړهٔ
مــا وې ښــهٔ نــو ګــوره راتــه مــهٔ

تــا وې ولــې ژاړې تــهٔ پــهٔ څــهٔ
مــا وې رانــه وړے دې دے زړهٔ

تــا وې نــن مــې ډېــر کېــږي ســاړه
مــا وې پــهٔ دیــدن بــهٔ شُــو تــاؤدهٔ

تــا وې دا مــې تلــهٔ او دا راتلــهٔ
مــا وې د دروغــو قســم څــهٔ

تــا وې چــې تیــار مــې دے وادهٔ
مــا وې دا تــهٔ څــهٔ وائــې او زهٔ

****

بس کړه دَ مخ نۀ مې زُلفان لۀ یوسه
ما دَ غرمو نه سائبان لۀ یوسه

باده سحر شو څه ورځه پۀ منډه
زما سلام زما جانان له یوسه

نور مې دَ عقل دَ دنیا نه لرې
چرته دَ عِشَق بیابان لۀ یوسه

پس دَ خفګان نه خوشحالي کوي خوند
دَ خوشحالۍ نه مې خفګان لۀ یوسه

اوس دَ سپرلي پۀ تکور نۀ رغیږي
زړۀ دَ رفیق بېرته خزان لۀ یوسه

****

زما پهٔ ساه هم خپله وسه کوي
ياد دې راتلهٔ لکه خپَسه کوي

مستي ترې لاړه مينه مړهٔ مړهٔ ښکاري
اوس مې پهٔ پسه چاړه غوځه کوي

بس خو کرَل دي او رېبل دي پهٔ ژوند
څوک پهٔ تېره څوک ئې پهٔ پسه کوي

بيا مې دَ يار اراده ښه نهٔ ښکاري
بيا رپېده مې سترګه ګسه کوي

بغېر دَ مينې بهٔ څهٔ خوند وي دَ ژوند
لکه سړے مونځ بې اودسه کوي

څوک چې رفيق ژوندے ليدل نهٔ غواړي
دَ مينې سوال دَ هغه کَسه کوي

****

مالیار ئې زۀ یم دے دَ باغ پۀ بوټو لور لګوي
دا سړے څوک دے چې زما پۀ ګلو اور لګوي

زور خو اوبۀ شي حق پۀ زوره باندې چا خوړلے
ګوره ته دغه زورور ته څومره زور لګوي

خلق زما سپینې خبرې اوربدے کله شي
څکه زما سپینه جامه باندې داغ تور لګوي

کله مې ځان لۀ دَ غمونو جنګ ته پرېږدي جانان
کله نا کله خو مرهم لکه غمخور لګوي

رفيقه نور مې د علاج ضرورت پاتې نۀ شو
چې مې تنکي زخمونه پۀ زړۀ نور لګوي

****

ځــهٔ کــوي پـخپلــه نــاروا خلــق
څه ګورے تېر ا ېستې دي مُلا خلق

یــا بــهٔ پــهٔ رښــتیا زهٔ لېــونے یمــه
یــا خــو لېــونې دي همــه دا خلــق

زهٔ بـهٔ څـهٔ بانـه کـوؤم چـې درشـمه
شک کوي جانانه اوس پهٔ ما خلق

زېلـې دَ ګناه د وَنـې غـوټې کـړئ
ولـې وژنـۍ هسـې بـې ګنـاه خلـق

مونږ خپلو کښې دوهٔ خبرې څهٔ وکړې
اوس کـوي خبـرې د دنيـا خلـق

نـوُر پـرې لـهٔ اسمانه راوريږي هـم
ځي خانـه کعبې تـه چې بلهـا خلق

کله کله خبر د ے دروغ هم ښـهٔ وي
نـهٔ وائـي رفيقـه ډېـر رښـتيا خلـق

****

## ناكام

ستـا پـهٔ يـو نظـر زمـا دَ زړهٔ آئينـه ماتـه شـوه
ووايه جانانه چې پهٔ دې کښې ګناه چاتـه شـوه

ستـا هـره خبـره مـې پـهٔ سـر سـترګو منلـې ده
څهٔ وشو که نن پکښې زمـا خبـره زياتـه شـوه

****

شين شم پهٔ خندا کښې د ژړا نه زۀ
کېنم يَوې خواته د دنيا نه زۀ

تهٔ چې هم خبره زما نهٔ منې
نوره بهٔ ګيله وکړم د چا نه زۀ

ورشه د جانان نه لږ تپوس وکړه
ډېر ښهٔ يم رقيبهٔ ګورے ستا نه زۀ

ما نه ئې پخپله لار غلطه کړه
پوزې له راغلے يم ملا نه زۀ

ورک دې دَ سکاټلېنډ داخوشي غرونه شي
لرې يم د خپلې پښتونخواه نه زۀ

هاغسې غربت راپسې شوے دے
تښتمه دَ دې تورې بلا نه زهٔ

تا خو هسې ډېر ځان شرمولے دے
نهٔ وایمه یار څهٔ د حیا نه زهٔ

ما سره هم اوس خبره ختمه کړه
تنګ شومه رفیقه د بیا بیا نه زهٔ

****

## پېرزؤینه

داسې لکه شمع شي تیاره کښې چرته بله
برق برق پهٔ خندا شي ټول محفل کړي تهٔ روښانه

هسې که ببل ببل دي خو مطلب دَ دواړو یو دے
ووایه چې ګُل درکړم که زړه درکړم جانانه

****

خوَند کوي چې غَلې شرمېدلې خندا وينم
کلکه ئې پهٔ سرو شونډو تړلې خندا وينم

دغه خو پخپله قيامت خېزه نظاره ده
مرم بهٔ خامخا چې دومره ښکلې خندا وينم

داسې ده ، څه داسې ده ، څه داسې ده ، څه داسې
نن ئې څهٔ کمال ته رسېدلې خندا وينم

خدائېګو لکه مړے رابېدار شمه ژوندون ته
ستا پهٔ وړو شُونډو چې راغلې خندا وينم

زهٔ خو څهٔ ماشوم نهٔ يم رفيقه ښهٔ پوهېږم
سترګو کښې غصه شُونډو کښې غَلې خندا وينم

****

www.pukhto.net

راغلم پۀ سحر کښې راښکاره لکه دَ نمر شومه
جانه ستا پۀ در کښې راښکاره لکه دَ نمر شومه

وګوره د عشَق معجزه څه عجیبۀ ده هم
ډوب شوم سمندر کښې راښکاره لکه دَ نمر شومه

تا چې یادولم پۀ یو دم دې اوښکې تم شوې یار
پړق شو پۀ ګودر کښې راښکاره لکه دَ نمر شومه

ورو درنه پناه شومه د غر پۀ څوکه ښکته زۀ
بره بیا پۀ سر کښې راښکاره لکه دَ نمر شومه

زمکې تاؤ خوړلےؤ رفیقه سپوږمې نۀ وه اوس
زۀ چې پۀ چکر کښې راښکاره لکه دَ نمر شومه

****

www.pukhto.net

هسې فکر وړے يمه ځان ته زهٔ
راغلم پهٔ لمبو کښې ګلستان ته زهٔ

ګل چې ئې کمخو لره پېدا نهٔ شو
څومره ملامته شوم جانان ته زهٔ

سر او مال کهٔ ځي زما پرواه نشته
نه ګورم پهٔ مينه کښې سود زيان تهٔ زهٔ

شپې ورځې بدليږي ځي رواني دي
ګورم بس حېران حېران اسمان ته زهٔ

پاتې دے نيمګړے هر ارمان زما
ژاړم بهٔ رفيقه کوم ارمان ته زهٔ

****

www.pukhto.net

بنګړې مې شورې زړه مې درزيږي
ځم ستا پۀ لورې زړۀ مې درزيږي

بس دے روان دې پۀ خپله لار شه
خلق هم ګورې زړۀ مې درزيږي

ستا دَ غمونو دَ زور خو نۀ يم
ولې مې زورې زړۀ مې درزيږي

ښنګه چې خاندې داسې پړقيږي
اسمان کښې ستورې زړۀ مې درزيږي

مونږ غريبان يو رفيقه واوره
مونږ يو کمزورې زړۀ مې درزيږي

****

غوا ړمــه غــزل غزل، یــو جانــان غــزل غــزل
دا غــزل غــزل ارمــان، دا ارمــان غــزل غــزل

مړهٔ زمکه ژوندۍ شوله، مړ شو پهٔ ژړا اسمان
اوښکې څې قطارقطار، پوست باران غزل غزل

دې جهــان تــه وګوره، ټــول دے قافیــه ردیــف
ټــول دے قافیــه ردیف، ټــول جهــان غــزل غــزل

یو خوا دې خندا ښکلې ،بل خوا دې خوارهٔ کاتهٔ
ســتا دې ګلابــي لبــان ســتا چشــمان غــزل غــزل

ښکلګه ئې بیان کړمه ، ښکلګ رفیقه ښکلګ بیان
ســتا بیــان جدا بیــان ، ســتا بیــان غــزل غــزل

****

www.pukhto.net

نـــوره د دنیـــا ســـره دنیـــا کـــولے چرتـــه شـــم
دا خـــو خند بـــده غـــواړي زهٔ دا کـــولے چرتـــه شـــم

دومره لوئې جرأت چې زهٔ منکر شم ستا دَ مینې نه
هســې پــه خُلــه وايــم پــهٔ رښــتيا کــولے چرتــه شــم

اوښکې زر صفا کړمه سلګۍ مې ورو ورو غلې کړم
شونډې مې مسکۍ کړم خو خندا کولے چرته شم

ښهٔ پهٔ دې پوهيږم چې زخمې زړهٔ مې ټکور بهٔ شي
لاس ئې ښکلؤم خو دا ګناه کولے چرته شم

ستا نه تپوس ښهٔ دے چې تهٔ څهٔ وائې چې څنګه دے
کار پهٔ خپل اختيار خپله رضا کولے چرته شم

تا خو فتوىٰ ورکړله ګڼوه دې کړه حلال حرام
ستا پهٔ شان خبرې زهٔ مُلا کولے چرته شم

دې حد له راغلے يم ،ياران راپسې خاندي اوس
زهٔ ورته ښېرې او بد دعا کولے چرته شم

خلق تپوس وکړي ، چې رفيقه پهٔ تا څهٔ شوي
ذکر ورته زهٔ د خپل اشنا کولے چرته شم

****

ډېرې مې یادېږي یاره هغه ورځې شپې خوږې
هغه پهٔ برق برق خندا او هغه ستا قیصې خوږې

فرق شته واعظه د جانان او ستا خبرو کنبې
تهٔ کوې ترخې ترخې ، هغهٔ کوي خوږې خوږې

ستا پهٔ سترګو هغسې هم ماته زما سترګو ته
خوږ دے جانه دا کلے او دا زړې کوڅې خوږې

اوس چې دَ باغونو واک اختیار ئې د اغیارو شو
اوس بهٔ پهٔ کابل کنبې شي پیکه واړه مېوې خوږې

ځکه خو رفیقه دا پهٔ تا هم ډېرې ښې لګي
ستا نامه پرې اخلمه زما شونډې پهٔ دې خوږې

****

راشــه وګــوره زمــا زړۀ
دَ کتــو دے جانــه دا زړۀ

مینــه غــواړي خامخــا زړۀ
دَ شیشــې پــۀ شــان صــفا زړۀ

مــا درکــړے دے پخــوا زړۀ
کــۀ دې راکــړو پــۀ رښــتیا زړۀ

خپــل زړګــے بــۀ دې ازار شــي
کــۀ ازار دې کــړو دَ چــا زړۀ

پــۀ ژړا ئــې زۀ عــادت کــړم
رانــه وړے ســتا خنــدا زړۀ

ســتا چــې زلفــې پــۀ هــوا شــي
هــم زمــا شــي پــۀ هــوا زړۀ

www.pukhto.net

هسې زړهٔ نـهٔ شم کولے
ګنې کيږي ښهٔ زما زړهٔ

تول پهٔ تول يو هوس دے
ما کتلے دَ مُلا زړهٔ

وارخطا ئې وئېل رفيقه
هم زما شو وارخطا زړهٔ

****

## غَم

يار پهٔ غَم کښې دې خوشحاله يم اباد يم
ستا پهٔ مينه مې قسم دے مات دې نهٔ شي

خپل توتې توتې زړګے مې راتول کړے
اوس زما سره ئې غم دے مات دې نهٔ شي

****

زړهٔ مې تنګ شوے د جهان د لاسه
هسې نهٔ مړ نهٔ شم دَ ځان د لاسه

پهٔ انتظار یم دَ سپرلي دَ ټکور
شونډې مې چاودې دَ خزان دَ لاسه
چې در پهٔ در خاورې پهٔ سر ګرځمه
دَ خپل نیازبین نیازبین جانان دَ لاسه
زما د سترګو حَلقې تورې شولې
دَ شوګیرو او دَ هجران دَ لاسه
دَ خدائے دا لویه زمکه تنګه شوله
پهٔ یو انسان دَ بل انسان دَ لاسه
پهٔ دې کښې څوک هم ملامته نهٔ دي
زهٔ مې رسوا شوم دَ ګریوان دَ لاسه

رفیقه نن لګي دکُفر فتوې
پهٔ مُسلمان دَ مُسلمان دَ لاسه

****

www.pukhto.net

نهٔ پوهېږم اوس زمونږه رشته څهٔ ده
مينه کښې زمونږه مرتبهٔ څهٔ ده

غم دې پهٔ ما شپه او ورځ يو کړې دې
خوستا خدائے خبر چې اندازه څهٔ ده

نشته نور واعظه دَ تقرير حاجت
لنډه راته وايه خلاصه څهٔ ده

مينې خو دې تور لکه رانجهٔ کړمه
وايه کنه اوس دې اراده څهٔ ده

اے زما رفيقه نور مې څهٔ پُښتې
ستا نه بغير ژوند څهٔ دے مزه څهٔ ده

****

www.pukhto.net

ماته بس د سود او زیان قیصې کوي
نوري خو واعظ خبرې ښې کوي

زهٔ هغه ملا هډو منمه نهٔ
څوک چې تل بې مینې مسئلې کوي

هره شپهٔ جامونه پهٔ سر واړوي
هره ورځ هم د غسې توبې کوي

نفس چې دَ انسان دَ زړهٔ نه لرې شي
بیا بهٔ خوئ خَصلت دَ فرښتې کوي

او منه شېطان بهٔ ئې پهٔ زړهٔ کښې وي
کوم سړے خبرې چې پستې کوي

www.pukhto.net

یار راله تُحفه کښې شاعري راکړه
څومره احترام مې دَ جذبې کوي

ځکه افلاطون شاعري نهٔ مني
خلق بیا انکار دَ فلسفې کوي

دغه ئې رفیقه دَ دُعا انداز
دغه چې پهٔ خُلهٔ راته ښېرې کوي

****

# دیدن

نیمه شپه کښې ناست وو د انځر دَ ونې لاندې
کانې راګذار شو یار وې څه څو رقیبان دي

ما وې رانزدې شه چې پهٔ غېږهٔ کښې دې پټ کړم
دلته کښې څوک نشته یَرول کوي پېریان دي

****

وايم زما نه چې لاړ نۀ شې ،هيڅ ونۀ وائې تۀ
غلے پۀ ببرته پۀ کاتۀ شې هيڅ ونۀ وائې تۀ

زما قيصه چې څوک کوي تۀ ئې پۀ مينه اورې
تپوس کوې خو زر بې زړۀ شې ، هيڅ ونۀ وائې تۀ

تۀ څۀ خبر ئې ټوله شپه مې پۀ ژړا تيره شي
چې مرور رانه اودۀ شې ، هيڅ ونۀ وائې تۀ

سر ته دې ناسته ژړغونې راغوټه شم پۀ تا
چې درته وايم زر بۀ ښۀ شې ،هيڅ ونۀ وائې تۀ

رفيقه ښکاري چې رقيب درته څۀ بيا وئيلي
چې درته وايم ستړے مۀ شې ، هيڅ ونۀ وائې تۀ

****

www.pukhto.net

وا ړوه د مخـــه تـــور اوربـــل پـــوره
پرېـږده چې پاګـل شـمه ، پاګـل پوره

څـه بې وختـه جوړ کړلـو فسـاد غـوټۍ
لا پـــوره سـحر نـهٔ ؤ ، نـهٔ ګـل پـوره

دومـره خنـدا ګانو تـه دې څـهٔ حاجـت
يــو بَخـرے اور دے ، دَ ځنګـل پـوره

دوهٔ ګـوتې کـړي مخکښـې بې وفـا خلق
نـهٔ ورکـوي خلقـو لـه منګـول پـوره

تـا چې هـم پـهٔ مـا پـورې خنـدا وکـړه
زده مـې ژړېـدل کـړه ژړېـدل پـوره

خانـدم چې رفيقـه غرېؤ مې ونيسـي
نـهٔ کيـږي زمـا نـه خندېـدل پـوره

****

www.pukhto.net

ولې دې پښېمانه پهٔ وعدو شولې
ولې جانه داسې بې پښتو شولې

راغلې هم د دومره انتظار نه پس
دوه خبرې ونهٔ شوې پهٔ تلو شولې

ګُلې ستا پهٔ مینه مې باور راغے
راغلمه چې تاله پهٔ ګیلو شولې

تا کړله شروع د محبت قیصه
نیمه کښې دې پرېښوه پهٔ سلګو شولې

لا خو مې ګُلاب پهٔ لاس کښې رانغے
څوکې پکښې ماتې دَ ازغو شولې

چرته دې رفیق دُعا کښې یاد نهٔ کړو
ټول عمر ښهٔ سترې پهٔ ښېرو شولې

****

دا ځل مې تکور نهٔ کړې بهار شونډې
لاړې اوس بې کاره شوې د کار شونډې

وخت چې مې د شونډو نه رنګ ویوړلو
ځکه راته نهٔ چیچي اوس یار شونډې

وګوره مسکی شي ځنګ دَ ګل شونډې
اخلي چې بورا ترې وار پهٔ وار شونډې

خلق وائي ښې د زړهٔ مریض له وي
دغسې سرکې انار شونډې

نن ئې وې رفیقه چې خفه نهٔ شې
ستا نه مې قربان ستا نه مې ځار شونډې

****

څومره چې مخکښې ځي تېرېږي ژوندون
ماتــه پــهٔ بېرتــه رايــادېږي ژونــدون

چــې لــږ خنــد ېږم ډېــر ژړېــږم پــهٔ ژونــد
مـا تـه هم داسې داسې کيږي ژوندون

هســې پرېــوتے لــهٔ ګرنګــه نــهٔ يــم
دَ چا پهٔ شونډو کښې موسېږي ژوندون

فکــر مــې واخلــي هســې دې حَيــا تــه
چې مې پهٔ مينه هم شرمېږي ژوندون

رفيقــه وخــت مــې شــو پخپلــه رقيــب
اوس بــې جانانــه بــهٔ تېريــږي ژونــدون

****

تــهٔ لکــه ښائســته دَ ګُــل زهٔ لکــه بــورا دَ ګُــل
لاړشــم لــرې لــرې زهٔ ، راشــم خوالــه بیــا دَ ګُــل

پرېږدمــه دنیــا دَ غــم ، راشــمه د بــاغ پــه ســېل
تــا پکښــې مسکے وینم ، ګورم چې ښکلا دَ ګُل

زهٔ دَ ځان نهٔ ورک شمه ، تـا پکښـې څرګند وینم
یو خوا ته مسکۍ غوټۍ ، بل خوا تـه خندا دَ ګُل

دا وي دَ ســپرلي موســم ، زېــرے د خــزان راوړي
اوښکې مې راتوئې شي بیا ، وینم چې ژړا دَ ګُل

زدهٔ کړي ترې انداز دَ ژوند ، پوهه شي رفیق پـهٔ راز
راشي خپل جهـان تـه بیـا ، پرېږدي بیـا دنیـا دَ ګُل

****

www.pukhto.net

وَدريږي يو دم دَ بنګړو شرنګ سره
اخلي چې قدم دَ بنګړو شرنګ سره

زړهٔ رانه وباسي ګُلې ورو راځه
درز کوي هم سم دَ بنګړو شرنګ سره

زهٔ د رقيبانو پرواه نهٔ کووم
تا سره شي غم دَ بنګړو شرنګ سره

زړهٔ مې ورته خدائيګو ټينګيږي نهٔ شي
راغله بيا پهٔ چم دَ بنګړو شرنګ سره

وئ وئيل رفيقه پرواه مهٔ کوه
تا له بهٔ درځم دَ بنګړو شرنګ سره

****

خدائے خبر پۀ څۀ دومره خفه تۀ لېونۍ شولې
لاړې مروره شوې وړوکې شوې تنکۍ شولې

زر مې ځان سمبال کړو دَ ګودر لاره مې ونيوه
تۀ چې رابښکاره پۀ مازيګر کښې پۀ بلۍ شولې

څۀ وشو کۀ تا لکه د ګل زرې زرې کړمه
پانې پانې پرېوتم خورې مې خوشبويۍ شولې

تا راته کتل ګُلې خو ما چې درته وکتل
سترګې دې کړې ښکته ورو روانه شوې مُسکۍ شولې

تلو کښې دې رفيق ته بيا د نۀ راتلو تپه وکړه
اوښکې ئې روانې شوې راماتې ئې سلګۍ شولې

****

خبرې دې خوږې خوږې جانانه شوخې
دا نولي ښکلاګانې څهٔ بې شانه شوخې

یار اوښکې مې د سترګو پهٔ کاسو کښې دلاسه کړه
پهٔ مخ مې رابهیږي لهٔ ارمانه شوخې

هم دغه رنګینو ته انتظار کوو خدایه مونږ
دا پس چې راښکاره شي لهٔ بارانه شوخې

وعدې د ښکلو ښکلې وي خو ډېرې وي نازکې
ماتیږي پهٔ چل ول کښې پهٔ اسانه شوخې

وچیږي مې رفیقه غوټي شونډې لهٔ خفګانه
غوړیږي ئې سرې شونډې د خندانه شوخې

****

مـا ورتـه وې چـې زهٔ دې يـم يـاره ملنـګ دَ مينـې
دلتـه بـهٔ ناسـت يم کـهٔ دې رانـهٔ کړو قلنـګ دَ مينـې

بـس کـړه پلـو د مـخ نـه لـرې کـړهٔ مـا وسـوزوه
شـمعې راغلے دې يـم خوالـه نـن پتنـګ دَ مينـې

مـونږ خنـد اګانې مسـخرې کـوو دَ يـو بـل سـره
پـهٔ ټوقـو ټوقـو کښـې شـروع شي اخر جنـګ دَ مينـې

مـا کـړهٔ ګُلاب پـهٔ شـان څـواني درپسـې خـاورې ايـرې
خـو تـا پـهٔ مـا هـډو را ونـهٔ شـيندو رنـګ دَ مينـې

رفيقـه منمـه چـې هلتـه بـهٔ وي غـم دَ حسـاب
خـو دلتـه زهٔ لېـونے کـړے يمـه شـرنګ دَ مينـې

****

شُغله شُغله نظر ، لمبهٔ لمبهٔ بدن
او يَخه يَخه شپه ، خوَله خوَله بدن

وريځ وريځ زُلفان او مخ ئې لکه نمر
پهٔ سيوري کړي سيزل ، غرمه غرمه بدن

سرۀ لاس پهٔ نکريزو ، نرمې نرمې ګُوتې
پهٔ ما خو کړي بيخي لشه لشه بدن

ګُلاب ګُلاب ئې شُونډې ، سترګې ئې نرګس
غزل غزل ئې مخ ، مصرعه مصرعه بدن

توره توره شپه ، سپوږمۍ سپينه رفيقه
خُمار خُمار ځواني ، نشه نشه بدن

****

ستا دَ خُلې خبرې څه زما دَ خُلې خبرې دي
دغه مې شعرونه دي ، غزلې دي ، سندرې دي

لا دې دَ انکار خبرې تاؤ راتاؤ پۀ خُلۀ کښې شي
لا دې د انکار نه شونډې لرې ډيرې لرې دي

څوک بۀ پکښې څۀ دَ سترې ژوند ستوماني وباسي
زُلفې دې حېرانه وَل پۀ وَل دي مرورې دي

ماله رُخصتي کښې ستا دَ اوښکو نامې نۀ راځي
دا خو نۀ ياقوت دي نۀ مرجان نۀ ملغلرې دي

زُلفې چې ئې تاو وخورې پۀ مخ ئې شي دانه وانه
يه رفيقه ځي د ښائست ښار ته بختورې دي

****

يـو ځلـې خـو بيـا تلـې موقـع راکـړه
مـا لـه دَ اظهـار ښـکلې موقـع راکـړه

مــهٔ ګـوره کـرم رابانـدې وکـړه لـږ
مــا لــه دَ کتــو ګُلــې موقــع راکــړه

ښهٔ ښکلے بهٔ تېر شي د ژوندون سفر
يـاره خـؤ تـهٔ يـو ځلـې موقـع راکـړه

خونـد خـو بـس دَ غـلا دَ ديـدنونو وي
ډک چې وي محفل غلې موقع راکړه

تـاخو وئيـل رفيقـه بيـا ديـدن نشـته
نـن دې رالـه بيـا ولـې موقـع راکـړه

****

سترګې دَ نم نه ډکې ،زړهٔ کښې دَ غم قيصې
تـا را سـپړدلي اشـنا ، پـهٔ هـر قـدم قيصـې

سحر دَ ګلو تل کښې ماښام پهٔ ستورو مشغول
دَ شپې باران دَ اوښکو ، شي دَ شبنم قيصـې

دا دَ وريځـو غرونـه ، دا دَ سـيندونو اوبـهٔ
دا مشـغولا وي زمـا ، ژاړم صَـنم قيصـې

دُنيـا رنګينـه ښـهٔ ده ، جنـت کلـه رسـي
ليک پـهٔ ازل کښې بـهٔ وي ، دا دَ ادم قيصـې

جامونه مات کړه ساقي ، مېخانه ورانه کړه تـهٔ
بس دَ رفيـق خوښـېږي، اوس دَ زم زم قيصـې

****

www.pukhto.net

ستا دَ يادونو پهٔ کتاب تېرېږي
شپه مې دَ خېره پهٔ ثواب تېرېږي

وخت خو د چا هډو پرواه نهٔ کوي
ښکلې ځواني هم دَ ګلاب تېرېږي

پهٔ لاره ځي پهٔ مکېزونو سره
لکه چپې چپې درياب تېرېږي

حسن چې زور کښې شي زوال ته زغلي
پهٔ منډه ځي لکه سېلاب تېرېږي

زما ګلاب رفيق زما نه تلے
ځکه مې ژوند داسې خراب تېرېږي

****

خُدائے بۀ خبر وي چې پۀ څۀ درَزيږي
خو تا چې وينم زړۀ مې وَدرَزيږي

کله چې ستا سو پۀ کوځه تېريږم
مَرې بس هسې زما زړۀ درَزيږي

ښکاري چې څه دې پکښې پټ ساتلي
داسې بې واره زړۀ دَ غلۀ درَزيږي

زړۀ مې ماشوم دے تسلي ورکووم
چې وايم مۀ کوه نو ښۀ درَزيږي

رفيقه څۀ خودې پۀ زړۀ کښې شته دے
دومره خو هيڅ بې هيڅه نۀ درَزيږي

****

www.pukhto.net

تـهٔ چـې خفـه نـهٔ شـې اشـنا زمـا نـه
کیــږي اکثــر هســې خطــا زمــا نــه

بـې دَ ژړا نـه مـې بـل کـار نشـته دے
تــا هېــره کــړې ده خنــدا زمــا نــه

سترګې دې پـوئې کـړه غلـې غلـې ګوري
کـوي کتـو کتـو کښـې غـلا زمـا نـه

چـې سـتا یادونـه مـې دَ زړهٔ نـه ووځـي
پـوئې شـه چـې ووتلـه سـاه زمـا نـه

چـې یـو ئـې زړهٔ بـل ئـې دنیـا راکړلـه
کیــږي بــهٔخامخا ګنــاه زمــا نــه

رفیـق پـهٔ تـا پسـې دُنیـا پرېښـوده
پــهٔ دې خفــه هــم ده دنیــا زمانــه

****

✿

تـا چې نـهٔ وے راکتلي ، مـا هـم نـهٔ وے درکتلي
يـا دې ښـهٔ وے راکتلي ، مـا هـم ښـهٔ وے درکتلي

دا خــو تــا راتــه کتلــي ، ځکــه مــا هــم درکتلــي
تــا چــې نـهٔ وے راکتلي، مـا بهٔڅـه وے درکتلي

پهٔ کتو پسې دې ياره ، پهٔ کتو کتو کښې مړ شوم
چې دې مړهٔ وے راکتلي ، چې مې مړهٔ وے درکتلي

پهٔ ژړا مو سترګې سرې وې ، دّ يو بل دّ کتو نهٔ وو
تـا پـهٔ تلـهٔ وے راکتلي ، مـا پـهٔ تلـهٔ وے درکتلي

لاړه زړهٔ کښــې دې زړه شــوه ، دَ رفيــق دَ زړهٔ خبــره
تـا لـهٔ زړهٔ وے راکتلي ، مـا بې زړهٔ وے درکتلي

****

تـۀ ژاړې دنیـا پسـې
خانـدي دنيـا تـا پسـې

زۀ چـې ورتـه وخانـدم
وخانـدي پـۀ مـا پسـې

يـاره دَ خنـدا بـۀ شـې
مـۀ خانـده پـۀ چـا پسـې

ډېـره خنـدا ښـۀ نـۀ وي
ژاړې بـۀ خنـدا پسـې

ژاړم زۀ رفيــق اول
خانـدم بيـا ژړا پسـې

****

ځــي پــهٔ تــرنم ئــې دَ ســحره وړي
یــار لــه مــې نســیم نــوې سندره وړي

څــهٔ نشــې نشــې ســترګې راواړوي
څهٔ ټکړې ټکړې مې لهٔ ځیګره وړي

ډېر راباندې ګران دے ستا خاطر یاره
چرتــه پښــتانهٔ دَچــاخبره وړي

څنګه اخر ستا سترګو ته وګورم
زړهٔ رانــه زمــا دَ زړګــي ســره وړي

www.pukhto.net

داسې پرمختګ رفیقه نهٔ غواړم
دا چې لوپټه دَ چا دَ سره وړي

دې ښار سره پټ پالي وفا کوي
ځي رفیق ډولۍ لهٔ پېښوره وړي

****

## پښتنه خاوره

بس یوه ئې لوپټه بله شمله ده
پهٔ دي دَ پښتنو سیمه ښائسته ده

چې دا نخښې پهٔ کومه خاوره وینې
نو پوئې شه چې ښاغلې پښتنه ده

****

نـهٔ راځـي زمـا خـوا لـه دَ چـم خلـق
هسـې خوشـحاليږي مـې پـهٔ غـم خلق

خامخـا بـهٔ مينـې تـه ژونـدون وائـي
هـر څـومره چـې ګـورئ دَ قلـم خلـق

هســې لېـوني پـهٔ کـاڼو ولـي دوئـې
چرتــه جنتيــان پېژنــي سَــم خلــق

ځان چې ترېنه هېر وي غم دَ بل کوي
وي بهٔ پـهٔ دُنيا کښـې داسـې کَم خلق

حق بـهٔ اخر څنګ رفيقـه بيـا مـومي
اخلـي نـهٔ پـهٔ حقـه يـو قـدم خلـق

****

زمـا زړۀ دے ، سـتا نظـر
یـو پرهـر دے ، بـل خنجـر

ژونـدون څـه دے شـړ پـتے
محبـت دے ، پـکښـې کـر

زۀ د غــم ،ګــوره وریــځ
تــۀ بـې غـمـه ، لکـه نمـر

غــم زمــا پــۀ ولــو بــار
تــۀ ، دَ ګلـو پنـډ پــۀ سـر

خوب مې نۀ وي ماسختن
چـې رایـاده شـې سـحر

مونږه تل روژه پهٔ خُلهٔ
ستا شب قدر ستا اختر

رفیق یو موتے ایره
تهٔ دَ نور یو سمندر

****

## نصیحت

پهٔ خبره کښې شور شي بیا چپ کېږه
چې پوهېږې شر بهٔ خور شي بیا چپ کېږه

چې پهٔ چا باندې مئین شې ورته وایه
خو چې زړهٔ دې ترینه تور شي بیا چپ کېږه

****

چې ناسته راسره وے تهٔ پهٔ خوا کښې دَ ګلونو
بيا جوړه بهٔ ښکلا وے پهٔ ښکلا کښې دَ ګلونو

ستا زلفې زما واک کښې او موسم دَ پسرلي وے
سمسور بهٔ يو ګلشن وے پهٔ صحرا کښې دَ ګلونو

تهٔ وګوره ښائست ته پهٔ جوبن کښې دے راغلے
چې خاندي غلے غلے پهٔ مسکا کښې دَ ګلونو

دا څومره وار خطا دے څنګ بوسې اخلي لهٔ ګلو
نن ښکاري پهٔ غور ځنګ مينه بورا کښې دَ ګلونو

هر چا چې ښهٔ غوښتلي دَ رفيق دَ پاره ربه
نو لېږې ورله ډکې کړې دعا کښې دَ ګلونو

****

زړهٔ مې دَ وفا فکر اخستے دے
تهٔ کوې جفا فکر اخستے دے

هر سړے پهٔ منډه هله هله دے
هر څوک دَ دنیا فکر اخستے دے

نن مې بیا یو زوړ یاد راتازه شولو
زړهٔ مې دَ پخوا فکر اخستے دے

ما چې تهٔ ستائیلې پهٔ غزل کښې یې
هر سړے هم ستا فکر اخستے دے

بیا دې له رقیب دَ خُلې نامه وَتې
ګوره رفیق بیا فکر اخستے دے

****

www.pukhto.net

✿

زهٔ چې پهٔ زمکه یار پهٔ نمر کښې اوسي
ځکه خو زمکه پهٔ چکر کښې اوسي

دَښائست خاص شکل ، صورت نشته دے
بس خو یو شے دے چې نظر کښې اوسي

محبت هر یو بنیادم کوي خو
دَ چا پهٔ زړهٔ دَ چا پهٔ سر کښې اوسي

وایم غرور چې ئې پهٔ اور وسېزم
دغه یو خیال مې پهٔ ځیګر کښې اوسي

ظلم زیاتے برداشت کولے نهٔ شي
رفیق لهٔ دې غمه پهٔ غر کښې اوسي

****

یو خوا دَ وخت توري بلا وخوړو
بل خوا سپیځلي سپین سبا وخوړو

چا په ژړا چا پهٔ خندا وخوړو
خپلو پردو ښهٔ پهٔ رضا وخوړو

واعظان غم دَ اخرت کوي تل
مونږه غمونو دَ دنیا وخوړو

زمونږ پهٔ ملک سړي خواره دیره دي
پهٔ سپینه ورځ ئې پهٔ رڼا وخوړو

پرېږده بس څوک خو بهٔ ماړهٔ کړو کنه
رفیقه خبر دے کهٔ هر چا وخوړو

****

www.pukhto.net

تا خو وې چې ساه مې ستا پهٔ ساه پورې تړلې ده
ما نه خو ستا غم کښې څو څو وارې ساه وتلې ده

تل بهٔ تهٔ تازهٔ ئې څو چې زهٔ مړاوې ځواني لرم
دا مې ستا دَ حسن نظر ماتې له ساتلې ده

ما دَ خپل کتاب دَ پاڼو مئینځ کښې سمبال ایښې ده
ستا دَ لاس ګلاب نهٔ چې هم پاڼه شوکېدلې ده

چرته کرشمې پټې او چرته پلوشې ښکاره
دلته ژړلېدلې ده او هلته خندېدلې ده

ښکارې چې رفیقه بیا سپوږمۍ راښکاره شوې ده
یا چرته لیلی پورته پهٔ بام باندې ختلې ده

****

بيــا دې اداګــانې پــهٔ بلــې راوړې
بيا دې شوخې شوخې رنګينۍ راوړې

ستا دَ خوَښې ګل بهٔ هم زرغون شي اوس
دا دے پسرلي يـو څـو غـوټۍ راوړې

خوږه مېلمـه ښـه ده چې تـه راغلې نـن
ځان سره دې ډېرې خوشحالۍ راوړې

زهٔ پـهٔ ګلاب څـهٔ کووم چې تـهٔ راغلې
دا دې رالــه ډېـرې خوشـبويۍ راوړې

مـا خـو وې رفيقـه شـراب نـهٔ څښـمه
سترګې دې نن بيا ډکې پيا لۍ راوړې

****

زهٔ دې پهٔ مخ اوښکې ليدے نهٔ شمه
الله دې خبر کړي لېونے نهٔ شمه

زما پهٔ ياد باندې اودهٔ شې اخر
ستا لهٔ غمه اودهٔ کيدے نهٔ شمه

تا چې دَ مينې نه توري نهٔ کړمه
اوس مې عادت زهٔ پرېښودے نهٔ شمه

ما له دَ صبر تعويز وکړه مُلا
زهٔ مې له ياره صبرېدے نهٔ شمه

تـا تــه پـهٔ چـل دَ کتـو نـهٔ پـوهېږم
دغــه خــو چـل د ے درکـتے نـهٔ شــمه

زمـا نامـه بـهٔ دې پـهٔ خُلـهٔ هـم راشـي
نور دې پهٔ زړهٔ کښې پټېد ے نهٔ شمه

رفيقــه مــرګ تــه هــم تيــار يمــه زهٔ
خـو پـهٔ ژونـدوني بېلېـد ے نـهٔ شـمه

****

# حيراني

تهٔ لا خومره شوم يې آئينې نهٔ بل خوا ګورې نه
مـا ليـدلے چرتـه نـهٔ ۆ دومـره شـوم پـهٔ ځـان مئـين

نـهٔ پـوهېږم نـهٔ چې تـهٔ رقيـب ئـي کـهٔ جانـان زمـا
چې زهٔ هـم پـهٔ تـا مئـين يمـه تـهٔ هـم پـهٔ ځـان مئـين

****

تـول عُمـر پنـاه لـۀ بېلتانـۀ غـواړم
سـر مـې د اشـنا پـۀ زنګانـۀ غـواړم

هسـې نۀ چې تا تـه څوک پېغور وکړي
روغـې مـې تنـې د ګرېوانـۀ غـواړم

مـونږ خو مېلمنو تـه خوشحالېږو تـل
زړۀ لـه سـتا غمونـه مېلمانـۀ غـواړم

حق باندې چې مرګ دَ شهادت غواړي
دَغسـې سـرتېره پښـتانۀ غـواړم

زۀ رفيـق خپـل سـود او زيـان ښـۀ پېـژنم
هغـۀ ترېنـه غواړمـه دا نـۀ غـواړم

****

يوه مينه چې دَ ژوند نه شي بهر ، پاتې بهٔ څهٔ شي
تش غم بهٔ راتـه بيا شي را پـهٔ سر ، پاتې بهٔ څهٔ شي

يـو وحـدانيت بـل اطاعـت تـه ګـورے خيـال کـوه
کُنجي چې دَ جنت شي درنـه لـر ، پاتې بـهٔ څهٔ شي

زور ئې دومره زور دے چې دَ ماشي دَ جواب نهٔ دے
چې لـرې دَ انسـان نـه شـي هنـر ، پـاتې بـهٔ څـهٔ شي

پريـږدئ چـې ګواښـيـږي نـن نـادان دَ سـبا څـهٔ خبـر
اوبـهٔ چـې شـي دا زور دَ زورور ، پـاتې بـهٔ څـهٔ شي

www.pukhto.net

تهوله میاشت روژه نیول کهٔ هر څومره اسان دي خو
اُمید چې پکښې نهٔ وي د اختر ، پاتې بهٔ څهٔ شي

سوال کوې وړوکے خو رفیقه د کمال نه ډک
چې درکړي درله یار د شونډو سر ، پاتې بهٔ څهٔ شي

****

## عشَق

لږ مې پهٔ دې پوئې کړه ، چې سپرلے څهٔ دے خزان څهٔ دے
وصل دَ جانان څهٔ دے واعظه او هجران څهٔ دے

خبر کهٔ عشق نهٔ منې خو عقل ته دې ووایه
دومره لوئې جهان څهٔ دے او بره شین اسمان څهٔ دے

****

شَمال ته ئې نيولې زُلفې سپورې ګډې وډې
خوَرې ئې پهٔ سپين مخ وې تورې ګډې وډې

ځان ئې کړو پرې ستړے چې يو ګل دوهٔ پکښې کيږي بيا
بس دومره ئې کړې جوړې چې شوې نورې ګډې وډې

دَ زُلفو بلاګانې ئې ځوکۍ کوي پهٔ خوب کښې
وي شپه کښې ئې پرتې پهٔ مخ نسکورې ګډې وډې

چاته ئې وئېل چې زُلفې ماځکه راسپړدې دي
چې خوښې دَ رفيق وي زما خورې ګډې وډې

رفيقه راشه يو غزل نيم خو پرې جوړ کړه
بيا زُلفې ئې تار تار شوې کهٔ ئې ګورې ګډې وډې

****

www.pukhto.net

خوَږه خوَږه قيصه کوي چې زور راله پهٔ سر کوي
دا ښکلي عادتونه هم زما جانان اکثر کوي

اے څهٔ وشو کهٔ مونږه پکښې لږه ننداره وکړه
چې پېغلې هم منګي واخلي مزې پهٔ مازيګر کوي

هم چرته چې پخوا نه يوې پېغلې يار ژړلے ؤ
تر اوسه ژړاګانې هغه غاړه دَ ګُودر کوي

پوهېږم نهٔ ساده ده کهٔ دَ مينې انتها ئې ده
زما پهٔ نامه ګوره دَ همځولو سره شر کوي

دا ځکه ورله زۀ اکثر خوارۀ ساتم جيبونو کښې
دَ چم دا ماشومان مې دَ راتلو تا ته خبر کوي

رفيقه هغه خلق بۀ رښتيا خوبونه څۀ وينې
دَ شپې چې شوګيرې کوي خوبونه دَ سحر کوي

****

## قسمت

چرته خو دَ ژوند دَ فلسفې کتاب راوړوه
وګوره چې څۀ دي فاصلې کتاب راوړوه

ځۀ کنه زما دَ تندي ليک خو راته ووايه
ولوله زما دَ نوم صفحې کتاب راوړوه

****

چې پهٔ مینه ، محبت کښې لوئې پارسا شې
تهٔ بهٔ ګل شې تهٔ بهٔ نُور تهٔ بهٔ ښکلا شې

تلهٔ بهٔ هله ستا پهٔ دین باندې اسان شې
چې عاجزه پهٔ سیالۍ کښې دَ دُنیا شې

ستا فائده ده میوه دار بوټے چې کَرې
صدقه ده هم کامیاب بهٔ پرې سبا شې

هم هغه ګناه بهٔ تا بوځي جنت ته
سر چې ښکته کړې ګرېوان کښې پهٔ ژړا شې

محبت کښې تهمت هم ګورے عظمت دے
خیر رفیقه لېونیه کهٔ رسوا شې

****

چې دې مست خپله نېکي کړي پهٔ خپل ځان دې ويرېږه
چې ګناه دې پښېمان نهٔ کړي پهٔ ايمان دې ويرېږه

چې نېکۍ پسې نېکي شي ښه ده ښه ده ګټه ښه ده
چې نيکۍ پسې ګناه شي پهٔ تاوان دې ويرېږه

چې سپرلے وي او جنون وي ګرېوان څيرې ويرې خوند کړي
تماشه چې دَ چا نهٔ شي پهٔ ګرېوان دې دې ويرېږه

چې ښېګړه کله وکړې نو بيا ښهٔ ده چې شي هېره
يادوې چې ئې مدام تهٔ پهٔ احسان دې ويرېږه

ښهٔ پوهېږې دُنيا تل ده دَ ارمان سره رفيقه
اے دَ زمکې ارمان ژنه پهٔ ارمان دې ويرېږه

****

تـا پسـې مـې يـاره ډېـر ژړلـي دي
اُوښـکې مـې لـهٔ سـترګو بهـېـدلي دي

ژونـد کښې څهٔ لمحې دا سې راغلې دي
ډېـرې ئـې سـاه ګـانې مـې زورَلـي دي

سـتا دَ مينـې زور راتـه معلـوم شـو اوس
څړيکـې مـې دَ زړهٔ نـه راوتلـي دي

مـا بانـدې راغلـے لېونتـوب دے نـن
خبـر دے کـهٔ څهٔ زيـات مې نـن وئېلې دي

غم دې راليږه چې مې ملګرے وي
واړه خوشحالۍ مې تښتېدلي دي

سترګې دَ رفيق بل چا ته نهٔ ګوري
يو ځل چې ئې ستا پهٔ لور کتلي دي

****

# وَس

خوند دَ ياراني هم پېدا کيږي پهٔ ګيله مانه
ځه کنه خفه شه ، مرور شه چې پخلا دې کړم

زړهٔ غواړې کهٔ سر غواړې تيار يمه جانانه زهٔ
څهٔ وکړم چې نهٔ خورې اوس کهٔ نهٔ ځې چې پهٔ شا دې کړم

****

زړهٔ وائي دَ سترګو جمال کسب دے
اصل کښې خو درد دَ کمال کسب دے

شېخه حرام نهٔ دے ناروا وائې
مینه ښکلے کار دے حلال کسب دے

یو خوا پهٔ رنجو ډېره مئینه ده
بل ئې پهٔ تندي باندې خال کسب دے

ښـــکلې مشـــغله ښـــکلے هنـــر لـــري
ګُل ئې پهٔ بالخت او رومال کسب د ے

زهٔ خـو محبـت د سـرو نـه درونـد ګـڼم
سـتا مینـه نادانـه دَ مـال کسـب د ے

ذکـر دَ دنیـا لـه بـهٔ جمـات تـه ځـو
مونږ له خو ثواب کښې وبال کسب د ے

چرتـه خاونـدان دَ پرمختـګ نـهٔ شـو
بـس دَ پښـتنو خـو زوال کسـب د ے

ډېـره کـهٔ تېـره کـړې دَ نظـر تُـوره
بیا مې هـم سینه ورتـه ډال کسب د ے

ښـهٔ ده چـې رفیقـه شـاعري کـووم
دا خو دَ رحمان او خوشحال کسب د ے

****

ماتــه مــې خپـل کــټ دَ جنــازې ښــکاري
ځکــه راتــه ژونــد هــم بــې مــزې ښــکاري

خوښ مې دي دُنيا کښې سره ګُلونــه خــو
بيـا بـهٔ مې پـهٔ قبر شنې خازې ښـکاري

ياره کهٔ پهٔ غم مې اُوښکې توئې کړې اوس
کـــار راتـــه دَ مـــخ او مـــلازې ښـــکاري

ښـــکاري چـــې زمـــا نـــه انکـــاري شـــولې
داســـې دې دَ مينـــې انـــدازې ښـــکاري

هلتـــــه دَ رفيـــــق قبـــــر بـــــهٔ وينـــــې
کلـــه چـــې پـــهٔ دغـــه لاره ځـــې ښـــکاري

****

څـم غـر تـه دَ بـونړ
راړم درلـــه نمېـــر

ستا غـم کړمـه راګېـر
لـهٔ مـا نـه شـو چـاپېر

زهٔ نـــهٔ وایـــم دروغ
یـــاد ېږې راتـــه ډېـــر

هېـر شـوے رانـه ځـان
تـهٔ نـهٔ شـوې رانـه هېـر

جانانــه ســتا دَ غـم
زهٔ نـهٔ کوومـه شـمېر

دا ســتا دَ مینــې جــال
رفیـق شـو پکښـې ګېـر

****

www.pukhto.net

پـورې سرې نکريـزې کړه, اختـر بـۀ شي
سُور سـالو پـۀ سر کړه ,مـازيګر بۀ شي

ګُلـې دَ وعـدې وخت دې رالنډ شـولو
دغـه ده پـۀ تلـو ده شـپه سحر بـۀ شي

تـا سره چې سـتا سـتم ملګـرے دے
سـتا دا لېـونے پـۀ غرونـو سر بـۀ شي

اُوس مـې دَ سـينې زخـم خُلـه وکړلـه
مـړۀ مـړۀ راتـه مـۀ ګـوره پرهـر بـۀ شي

تېـر بـۀ شي يـو کـال دے بس دُعـا کـوه
تالـه خپـل کالـه تـه رفيـق در بـۀ شـي

****

یا بهٔ ګُلاب یا بهٔ لونګ شې یاره
زما پهٔ مینه چې ښهٔ رنګ شې یاره

زما دَ خپله ځانه طمع وشي
کله چې ما سره پهٔ جنګ شې یاره

مهٔ کوه ما پسې خندا مهٔ کوه
خوښه مې نهٔ ده چې ملنګ شې یاره

زما دَ مینې نه بهٔ تهٔ شې خبر
چې زهٔ دې شمع تهٔ پتنګ شې یاره

رفیقه تا لا پېژندلے نهٔ یم
زما دَ مینې نه بهٔ تنګ شې یاره

****

www.pukhto.net

زوړ مې محبت شو خو پۀ شا نۀ شو
یـاد دې راسـره دے لا جُـدا نـۀ شـو

تـور دَ یـار دَ میـنـې چې راپـورې دے
داغ مـې دَ لمنـې نـه صـفا نـۀ شـو

مـا چـې د الله نـه څـوک غوښـتلے ؤ
هغـه بـې وفـا جانـان زمـا نـۀ شـو

زړۀ کـۀ مـې نـازک دے نزاکـت لـري
بیـا دې هـم لـۀ غمـه وار خطـا نـۀ شو

تا چې ورله ځائے پۀ زړۀ کښې ور نۀ کړو
هغـه لېـونے رفیـق د چـا نـۀ شـو

****

مـــخ رانـــه اړوې پـــهٔ بلـــه يـــاره
وخـــت دَ ديـــدن وي کلـــه کلـــه يـــاره

زمـا پـهٔ زړهٔ کښې ډېر شـکونه راغلـهٔ
تـــا چـــې نـــن لاره کـــړه بدلـــه يـــاره

تهٔ مې پهٔ ساه تهٔ مې پهٔ زړهٔ کښې اوسې
زمـــا دَ خپلـــه ځانـــه خپلـــه يـــاره

مـنم چې مانـه صـبرېدے هـم نـهٔ شـې
بيـــا ژړوې مـــې دُومـــره ځلـــه يـــاره

رفيقـــه څـــوک دې دَ نظـــره نـــهٔ کـــړي
زمـــا دَ ګُـــل پـــهٔ شـــانتې ګُلـــه يـــاره

****

خانده مۀ ياره خندا بۀ درپسې شي
هم زما ازار ګناه بۀ درپسې شي

خپله ژبۀ هم قلعه ده هم بلا ده
چې انکار کوې بلا بۀ درپسې شي

ډېرې سترګې تورول ګُلې ښۀ نۀ دي
دغه ستا ښائست ښکلا بۀ درپسې شي

دَ نازونو اداګانو نه قلار شه
دغه ستا ناز او ادا بۀ درپسې شي

بس که لږ صبر دې نور وکړو رفيقه
نو هيله لرم پۀ تا بۀ درپسې شي

****

www.pukhto.net

ستا دَ مينې پهٔ شدّت دومره پوهېږم
زما جانه چې دَ ځان نه هم هېرېږم

بې دَ دې نه راته ځان نيمګړے ښکاري
ستا غمونه چې رادرومي خوشحالېږم

تهٔ خالق ئې ستا تخليق دے پاکه ربهٔ
زهٔ که هر څو هم پهٔ خپل شعر يادېږم

چې دَ مور او پلار دُعا مې راسره وي
زهٔ بهٔ چرته پهٔ دُنيا کښې نهٔ خوارېږم

دا زما او ستا قيصه کهٔ ځې خوَرېږي
اے رفيقه خبر دے زهٔ پهٔ دې نازېږم

****

حېـران ئـې کړمــه زهٔ کـهٔ دا زمـا معصـومیت دے
اشنا معصومیت دې ، څهٔ نا اشنا معصومیت دے

حیـا دې ده دَ سترګو ، څهٔ خوَره مسـکا پـهٔ شُونډو
سـړے ورتـه کَـتے نـهٔ شـي بلهـا معصـومیت دے

سـتا دَ دې معصـوم معصـومیت بـهٔلا څـهٔ وائیم نـور
چې مـا تـه نـهٔ راګـورې تـهٔ هـم دا معصـومیت دے

ښـې ډېـرې اداګـانې دَ معصــومو مــې لیـدلي
خو ستا پهٔ هر انداز کښې څهٔ جدا معصومیت دے

رفیـق غـزل لـیکلے یـاره سـتا پـهٔ دې معصـوم مـخ
یارښکاري پهٔ شعرونو کښې ئې ستا معصومیت دے

****

تلے نن جانان چې پهٔ سفر مې دے
ختم دَ قرآن کړے سحر مې دے

واړه مې قربان دَ يار لهٔ سترګو شه
سر دے کهٔ ځيګر دے کهٔ نظر مې دے

ستا د تورو زُلفو لېونے يمه
ځکه خو پهٔ تورو غرونو سر مې دے

يهٔ ياره دا ستا پهٔ نظر څهٔ وشو
ګوره اړولے رنګ پرهَر مې دے

شُور دَ رقيبانو پهٔ ما بد لګي
پورې چې رفيقه دَ زړهٔ ور مې دے

****

www.pukhto.net

ستا نه بهٔ جانانه څنګ انکار کووم
ستا دَ محبت خو زهٔ اقرار کووم

ستا پهٔ شان خو تا پهٔ کاڼو نهٔ وَلم
تا باندې خو زهٔ دَ ګُل ګزار کووم
پرې مې ږدئې ازاد نو بیا بهٔ غلے شم
بند چې پهٔ پنجره کښې شم چغار کووم
هیڅ کله لهٔ مینې صبرېدے نهٔ شم
ډېرې کهٔ توبې استغفار کووم
هیڅ کله کچه لوظونه نهٔ کووم
زهٔ دَ کار سړے یمه زهٔ کار کووم
زهٔ د محبت نهٔ ډک زړګے لرم
ځکه خو پهٔ کاڼې زړهٔ کښې لار کووم

داسې بهٔ رفیقه تل خزان نهٔ وي
رابهٔ شي سپرلے زهٔ انتظار کووم

****

مـــهٔ اړَوه رانـــه شـــيرينې ســـترګې
لـــرې راواړه دَ مينـــــې ســـترګې

اوښکې مې ستا پـهٔ غم کښې وچې شولې
اوس څڅـوي مـې يـاره وينـې ســترګې

پـــهٔ زړهٔ نـــرے يمـــه زر وژاړمـــه
چـې دې رايـادې شـي غمګينـې ســترګې

زمـــا دَ ســـر قاتـــل هـــم تـــهٔ ئـــې يـــاره
چـــې تـــورې داســـې حســـينې ســـترګې

رفيقـــه زړهٔ پـــرې زمـــا وســـوَزېدو
چـــې يـــار راواړولـــې ســـپينې ســـترګې

****

نهٔ کیږي اے شېخه پهٔ تسبو نهٔ پهٔ صورت کیږي
کیږي شېخي کیږي خو شېخي ګورے پهٔ نیت کیږي

مونږ خو پکښې خدائیګو هډو شپې ورځې ته ګورو نهٔ
څوک وائي دا څوک وائي چې هر څهٔ پهٔ محنت کیږي

مونږه لېونو ته دَ نفرت پهٔ نظر مهٔ ګوره
داسې لېونتوب ګورے اشنا پهٔ محبت کیږي

تا ډېره پهٔ منډه باندې خوا دَ رقیب خوښه کړه
لوئې فیصلې ګورے جانانه پهٔ حکمت کیږي

نشته دے رفیقه ستا پهٔ خوار تندي کښې نشته دے
کلے، مازیګر او دیدنونه پهٔ قسمت کیږي

****

ژوند څهٔ دے خو کور دَ ارمانونو دے
خوږ دے خوند ئې ډېر پهٔ اُمیدونو دے

بخت دَ هغو مل چې شوګیرې کوي
چا منزل موندلے پهٔ خوبونو دے

تا چې پهٔ قلاره خوب ته نهٔ پرېږدي
شور د لېونو دَ زنځیرونو دے

خوند ئې لکه پرخه پهٔ مخ اوښکې کړي
ښکلے مخ ئې ښکلے لهٔ ګلونو دے

www.pukhto.net

يو دَ پښتونخواه خلق ډېر ښکلي دي
بل خوا ئې ښائست دَ تورو غرونو دے

هغسې رفيق دَ يار لټون کوي
هغسې روان پهٔ تِند کونو دے

****

# انسان

احساس ورسره نشته دَ خپل عمر
انسان دے بس سبا ته ورځې شماري

پهٔ مخکښې خبر نهٔ دے لهٔ خپل عمر
پهٔ مخکښې ځي او شاته ورځې شماري

****

www.pukhto.net

هغــه کــار کــوه چــې درتــه ګــران ښــکاري
ګــران بــهٔ درتــه خپلــه بیــا اســان ښــکاري

ځــان قربــانوؤم پــهٔ خپــل ګُلشــن وطــن
ماتــه ئې هر ګُل کښــې خپــل جانان ښــکاري

ځــان چــې کــم عقلانــو کښــې هوښــیار ګڼــي
هغــه هوښــیارانو کښــې نــادان ښــکاري

وروســتو مُســلمان یــم بیــا پښــتون یمــه
مخښکې خو انسان راته خپل ځان ښکاري

www.pukhto.net

هلـه بۀ انسـان صـحيح انسـان جـوړ شـي
بـل چـې ورتـه هـم كلـه انسـان ښـكاري

هسـې خوچېـه پـۀ رفيـق نـۀ راځـي
ماته خو ستا سترګو کښې پېریان ښکاري

****

# شدّت

تا سره مې زړۀ دے ګنې نور ښکلي څۀ کم نۀ دي
وغَـړوه سـترګې ځـه تـۀ ګېـر چـا پېره وګـوره

ډېره مـوده بـس درلـه راغلـے دَ ډېـر لـرې نـه
ډېر ارمـان مـې کـړے راتـه ډېره ډېره وګـوره

****

خلق زما پهٔ تماشه دي چې ما څهٔ ښځبلي دي
ما ئې کودري کښېږ دَ مات منګي اوبهٔ ښځبلي دي

تاسو زما نه پهٔ بار بار پُښتنه څهٔ له کوئ
دروغ خو نهٔ وايم ملګرو نن مې ښهٔ ښځبلي دي

ځکه مې سترګې داسې سرې نشې غوندې دي
ما ئې دَ سترګو پهٔ پيالو کښې شراب سرهٔ ښځبلي دي

رنګ ئې دَ مخ ځکه کچه کچه پېروے ښکاري
چې ټول عمري دَ ګوجر لور هم پے اُومهٔ ښځبلي دي

ځوانه ځوانۍ کښې رفيق ګرځي ځکه زيَړ اننګي
دَ چا غمونو دَ غريب وينې دَزړهٔ ښځبلي دي

****

www.pukhto.net

راشــم پــهٔ خنـدا خــو پــهٔ ژړا ځمـه
زهٔ چــې ســتا لــهٔ دره بــې نَــوا ځمــه

نــن رابانــدې بيــا چپــه راغلــې ده
نن دَ مېخـانې پـهٔ لـورې بيـا ځمـه

هــر بېګــا توبــهٔ لــهٔ يــاره وباســم
بيــا ورلــه وختــې ســحر سـبا ځمـه

ځکــه دَ ژونـدون سـفر اسـان ګــڼم
زهٔ چــې ســتا دَ مينــې پــهٔ رڼـا ځمـه

نــن خــو تــورې ســترګې دې راوا ړوه
نــن خــو تــورو خـاورو لـه اشـنا ځمـه

www.pukhto.net

کلــه کلــه تنــګ شــم دَ دُنیــا نــهٔ زهٔ
کله کله خوب کښې پــهٔ هوا ځـمـه

دا ســې دې رفیقــه لېــونۍ کړمــه
ګورمه پهٔ مخکښې خو پهٔ شا ځمه

****

## احساس

ډېــر کــهٔ دي ګُلونــه پســرلے هــم دے
راشه مازیګر دے ستا کمے هم دے

تــا تــه ئــې لا دومــره انــدازه نشــته
روغ بــهٔ وي رفیــق خــو لېــونے هــم دے

****

لګیا دې وي رقیب ما او جانان پسې
هم دغه رنګې سپي غاپي کاروان پسې

خېر چرته بهٔ یو ځل راشي زمونږ پهٔ لور
پټے خو ګرځوے نهٔ شم باران پسې

خدائېګو چې بس دَ زړهٔ نه ئې خبر نهٔ یُو
مونږ نیت صحیح تړلے مُلا جان پسې

خېر غم او خوشحالي دي دواړه ورور او خور
راځي هم خوشحالي تل پهٔ خفګان پسې

رفیق دَ محبت زور ښهٔ زورلے خو
تیاره هم راخوَره شوه پهٔ طوفان پسې

****

افسوس چې خان دَ خپل دهقان سره خبرې کوي
پـهٔ سـمه خُلـه ځـوک دَ انسـان سـره خبـرې کـوي

ځنګه بهٔ ښهٔ ورځ غریب بیامومي پهٔ دې وطن کښې
دا چې نرخونـه دَ اسـمان سـره خبـرې کـوي

چې کېفیـت دَ پـاکې مینـې مـا زمـا نـه یوسـي
بیـا مـې شـعرونه د وجـدان سـره خبـرې کـوي

بیـا ئې پـهٔ غـوَږو دَ هیڅ چـا خبـرې هم نـهٔ لګـي
سـړے چې کلـه خپـل جانـان سـره خبـرې کـوي

کلـه نـا کلـه چې پـهٔ لاره ځـي نـو کـاڼي ولـي
کلــه نــا کلــه رفیــق ځــان ســره خبــرې کــوي

****

بس ناوخته دے دَ تلو نه دي قلار شه
دَ ناوخته پهٔ بانه باندې ایسار شه

دَ سپرلي ګلاب پښوا خزان وژلے
دَ بُلبل ګرېوانه وشلېږه تارتار شه

دَ رقیب دَ اشنایۍ مطلب خو دا دے
چې پیشو ته وے دَ پئیو څوکیدار شه

دَ ډولۍ پهٔ انتظار بهٔ ناوې مړهٔ شي
بس ویشتلو ته دَ نخښې زر تیار شه

دَ دُنیا هیڅ څهٔ قیمت نشته نادانه
دا عبث سوچونه پرېږده لږ هوښیار شه

www.pukhto.net

دَ وړې وړې دانې نۀ سبق زدۀ کړه
ځان کړۀ خاورې خو دَ بل سړي پکار شه

اے رفیقه ملغلره شه پړقېږه
دَ پښتو دَ دنګې غاړې ښکلے هار شه

****

# جهاد

نۀ پۀ زندا باد او مُرد اباد کیږي
نۀ پۀ ژړاګانو او فریاد کیږي

کار پۀ اتفاق او اتحاد کیږي
بل پۀ تېره تُوره او جهاد کیږي

****

www.pukhto.net

دغــه يــوه ګيلــه چــې يــار زمــا دَ خــوا نــه ځــي کــوي
وخت دے چې دَ وخت نه زمونږ مئينځ کښې غمازي کوي

نــن ســپرلي تــه وژاړم غــوټۍ تــرې ګـُـل ســبا غــواړم
وخانــدي خــزان راتــه قيصــه د خپــل ماضــي کــوي

چرتــه دے انصــاف او عــدل اوس عــدالتونو کښــې
چرتــه فيصــلې دَ انصــاف دلتــه کښــې قاضــي کــوي

دلتـــه بـــس مـُــلا زمـــا او ســـتا خبـــره يـــوه نـــهٔ ده
عشق بهٔ حقيقي کوي څوک عشق چې مجازي کوي

يــو دَ حــق خبــره رفيــق هــر ځــائے کښــې پــهٔ شــور کــوي
نــور عــاجز ســړے دے ځــان لــه خپلــه عــاجزي کــوي

****

✿

درد چې مې ځيګر کوي
څيکې مې پرهر کوي

غم دې زورور شولو
ما پسې لښکر کوي

نمر چې ستا پۀ بام لګي
تاؤ پۀ مازيګر کوي

پوئې شه چې ژوَر نۀ دے
شور چې سمندر کوي

ستا دَ غم پۀ تال زانګي
نن رفيق اختر کوي

****

www.pukhto.net

خوښ مې دے ځنګل لېونے شوے یم
خور دې کړه وربل لېونے شوے یم

بیا مې کړه اودهٔ دَ زُلفو سُیوري ته
ښکلے پهٔ څنګل لېونے شوے یم

ما پهٔ ډېره مینه باندې وخوړو
ستا دلاسه ګُل لېونے شوے یم

ستا دَ خُلې بوسه راله ښه کیږي تل
لږ خو مې کړه ښُکل لېونے شوے یم

مینې دې رفیقه پهٔ ما کړے دے
خدائے خبر څهٔ چل لېونے شوے یم

****

خېـــر دے پرونـــی خبـــره تېـــره ده
نـــن درنـــه هـــم خپلـــه وعـــده هېـــره ده

دومره ګرانه نهٔ ده چې زړهٔ صبر کړم
لـــږه شـــان پښـــتو دې رالـــه ډېـــره ده

ونخلـي سـلګۍ شـي بهـر نـهٔ وځـي
ساه مې دَ ارمان مرۍ کښې ګېره ده

مینه مې پهٔ زړهٔ کښې پټوے نهٔ شم
سـترګو تـه مـې وګـوره برڅېـره ده

حلق مې دَ ژوندون شولو رفیقه تـریخ
هـره یـوه وعـده ئـې کچـه بېـره ده

****

www.pukhto.net

منم چې ما دَ سود او زیان کړې وه
خو تا خبره دَ خپل ځان کړې وه

پهٔ ما راښکې شولو باران لهٔ کومې
ما خو دعا دَ شین اسمان کړې وه
تورې تورې شوه ، نوم نشان ئې ورک شو
کلکه وعده چې مې جانان کړې وه
ما ستا پهٔ سر کړه دَ کلي نه وړه
دا فیصله مې پهٔ ایمان کړې وه
سپرلیه راغلې خو ناوخته دې کړو
یار مې ګیله ډېر پهٔ خفګان کړې وه
راوړې هم داسې فیصله انقلاب
چې خُمینې ځنګ دِ ایران کړې وه

حقه خبره خو رفیق وه کړې
اخر ګناه ئې څهٔ ګرېوان کړې وه ؟

****

www.pukhto.net

لکه څاروي دَ یو بل ښکر ماتَوي
لاس دَ کمــــزوري زوروَر مـــــاتوي

رندان خپل وار ته پهٔ قطار ودریږي
شېخان چې راشي پسې ور ماتوي

پهٔ سپینه خُله ئې رښا ښهٔ نهٔ راځي
دَ شـپې وعـده څکـه سـحر مـاتوي

دَ سپیلنو غوندې لوګے شوم ورتـه
داسې بهٔ څوک چا لـه نظر ماتوي

رفیـق روان دے دَ اشـنا کـوڅې تـه
بیـا لېـونے بـهٔ ځـان لـه سر مـاتوي

****

څهٔ ئې پـهٔ زړهٔ دي خـوزَوي ئـې شُـونډې
راشـي پـهٔ خُلـه ئـې ودرَوي ئـې شُـونډې

شـبنم دَ ګُـل رُخسـار سـحر ووينځـي
نسـيم چې راشـي خنـدَوي ئـې شـونډې

انـار دَ هـر مـرض دارو دے ښـهٔ دے
ګُورګـورې خوَشـې تـورَوي ئـې شـونډې

آؤ دے اقرار، شُونډې يو ځائے کړي ښکلې
نـهٔ، خو انکـار دے بېلـوي ئـې شـونډې

رفيـق نامـه سـتا زنکـدن کښـې اخلـي
خلـق لګيـا دے بنـدَوي ئـې شـونډې

****

www.pukhto.net

نن مخې له مې بيا راغله جينۍ خو هسې نهٔ
دا ما ته غلې غلې شوه مُسکۍ خو هسې نه

زما دَ راتلو زيرے بهٔ چا وړے وي هغې له
راخيژي هغه بام ته لېونۍ خو هسې نهٔ

هم ما ته پهٔ څهٔ چل کوي اظهار دَ خپلې مينې
دا شوخه شوخه ګرځي پهٔ بلۍ خو هسې نهٔ

اظهار دَ محبت لکه مجنون بهٔ مې کولو
شليدلې له ګرېوانه مې تنۍ خو هسې نهٔ

رفيقه خبر دې نشته نن ترې دې پهٔ رښتيا
دَ زُلفو نهٔ ئې کړې دې کمځۍ خو هسې نهٔ

****

زړهٔ مې هم ستا پهٔ زړهٔ کښې کور خوښوي
مور خو لا نهٔ دے غم دې نور خوښوي

مرګ قبلوي تل پهٔ اُوچتو سترګو
پښتون بهٔ نهٔ وي چې پېغور خوښوي

دَ لېونو ياري اسانه نهٔ ده
لېوني شور کوي هم شور خوښوي

خدائے خبر شېخ بهٔ اخِر څهٔ له راځي
چې مېخانه کښې جام نسکور خوښوي

www.pukhto.net

شُونډې سکروټې کړه راسرې ئې کړه ښې
شُونډې مې ځان سوَزوي اور خوښوي

کله نا کله سم مُلا شي رفيق
کله نا کله ټنګ ټکور خوښوي

****

# دُنيا او اخرت

هر سړے چې ترېنه درومي خالي لاس وي
بس يو دوه ګزه کفن ئې ټول لباس وي

هلته يو شانتې قانون دے ښهٔ ئې واورئ
پهٔ دستور دَ دې جهان کښې کهٔ څوک خاص وي

****

دَ ګُل پهٔ ځنګ کښې ئې ويستلے تصوير
والله دَ ګُـل نـه ئـې دے ښُـکلے تصـوير

لا خــو خُمـــار خُمـــار ځنګيږمـــه زهٔ
مـا ئـې هـم يـو نظـر ليـدلے تصـوير

مـــا ورتـــه وکړلـــې بلهـــا خبـــرې
هغـــه هـــم هغســـې ؤ غلـــے تصـــوير

نــور هــيڅ غــرض ورســره نشــته زمــا
مـا ئي پـهٔ زړهٔ کښـې پټ ساتلے تصـوير

مـا لـه دَ وخـت ګردونـو مـخ تُـور کـړے
اوس دَ کتــو نــه مــې وتلــے تصــوير

بيـا پـه رفيـق بانـدې څهٔ چـل شـوے دے
بيـا ئـې سـينه پـورې نيـولے تصـوير

****

www.pukhto.net

وران کـهٔ زمـا دَ میـنـې کـور شـي اشــنا
تـا تـه بـهٔ سـتا حسـن پـېغـور شـي اشـنا

سـتا بـهٔ دَ سـپـینـې خُـلـې نـهٔ کـم شـي څـهٔ
زمـا زړګـے بـهٔ پـرې تـکـور شـي اشــنا

کلـــه چـــې شـــعر شـــي زمـــا دَ غـــزل
سـتا دَ ښائسـت رنګونـه نـور شـي اشـنا

سـتا پـهٔ دیـدن بانـدې خـو ګُـل شـمه زهٔ
خو چې هجران شي رنګ مې تُور شي اشنا

مـا تــه هغــه دَ وصــال شـپه یـاده شــي
چې کوم سحر مارغان پـهٔ شور شي اشنا

رفیــق ئــې منــي زوروَر بــهٔ ئــې تــهٔ
خــو محبـت کلــه پــهٔ زور شــي اشــنا

****

دې خپل عمل او خپل ایمان وخوَړې
انسانه تهٔ خو خپل گُمان وخوَړې

زمونږ پهٔ برخه چې راغلې وې څهٔ
هغه وریځې هم اسمان وخوَړې

پهٔ مونږ احسان زیادنې څهٔ له کوې
شُونډې دې تولې خپل پېزوان وخوَړې

خبره ځې پهٔ خپل عمل ودرېږي
ځکه خو وایمه چې ځان وخوَړې

چې دَ خپل ورور وینې ښې وڅڅَوې
پښتونه دغه یو ارمان وخوَړې

تـال مـې دَ دنګې ځـوانۍ وشـو کېدو
یـو څـو تـالۍ پکښـې جانـان وخـوړې

هسـې مـې ځـان سـره نـن سـوچ کولـو
رفیقـه تـهٔ خـو بـس خفګـان وخـوړې

****

## توبه

چـار چـاپېره تصـویرونه سـتا پراتــه دي
کهٔ نـه زهٔ چرتـه دګُلو میـنځ کښـې ناسـت یم

بیـا ئـې نـهٔ څښـمه سـاقي خـو نـن تـرې راکـړه
ښهٔ مې وینې چې دَ ښکلو مینځ کښې ناست یم

****

لنډې وي خبرې خو اوږدې شي بیا
خوند کوي ترخې خو چې خوږې شي بیا

بام ته سُور سالو کښې مابښام وخيژي
ورو ورو دَ اسمان لمنې سرې شي بیا

ما بندي ناوخته کړې ناصح اکثر
وعظ ، نصیحت څۀ وي قیصې شي بیا

عشَق کښې هیڅ کله زړۀ رغیږي نۀ
ورشي پرهرونه وازې خُلې شي بیا

اُوښکې دَ رفیق څومره مَستي لري
اووهي غورځنګ چَپې چَپې شي بیا

****

ډکه دَ سرونه کۀ دُنيا شي نو څۀ
کۀ دا دُنيا ټوله زما شي نو څۀ

چې ئې نشه دَ مينې سر کښې نۀ وي
نو کۀ څوک شېخ ، قاضي، مُلا شي نو څۀ

زما چې سترګې ورپسې سپينې شوې
اوس کۀ مې يار ديدن له راشي نو څۀ

ورسره ملۀ چې نۀ وي دا پښتانۀ
چرته خوشحال کۀ راپېدا شي نو څۀ

چې پۀ ارمان کښې مې ځواني تېره شوه
کۀ مې قبوله اوس دعا شي نو څۀ

رفيقه زړۀ چې دَ ژړا نه ډک وي
هسې پۀ شُونډو کۀ خندا شي نو څۀ

****

## پيغام

بيګا مې شپه څۀ عجيبۀ تېره شوه
خو نن سحر شو پۀ ما ښُکلے سحر

نن بۀ مې ورځ دَ خېره ښه تېره شي
جانان پېغام دے رالېږلے سحر

****

جـوړې مـې پــۀ مـخ شــوې ژړېـدو کښــې لېـونۍ کړښــې
ښــکارې چــې اوس تـا تــه خندېـدو کښــې لېـونۍ کړښــې

یـــو یُـــو دواړه یـــو یُـــو دواړه یویُـــو اوس ببلېـــږو نـــۀ
چرتــه چــا راښــکلې پــۀ اُوبــو کښــې لېــونۍ کړښــې

پوئې نۀ شوم چې څۀ دي ،څۀ دې ووې ،څۀ مطلب دې دے
رادې ښـکې پــۀ زمکــه زر پــۀ تلــو کښــې لېـونۍ کړښــې

تــا خــو ســترګې تــورې کــړې، تــا وکاتــۀ خبــر نــۀ شــوې
جـوړې مـې پــۀ زړۀ شـوې بيـا کتــو کښــې لېـونۍ کړښــې

بيـا دې ځـان سـمبال کـړو نـن چـې بيـا دې اِراده څـۀ ده
بيـا دې جـوړې کـړي پـۀ ويښـتو کښـې لېـونۍ کربښـې

کربښـــې بـــۀ راکاږمـــه رفيقـــه چـــې پـــۀ لاره ځـــم
ورانـــې کړمـــه بيـــا پـــۀ خپلـــو پښو کښـــې لېـــونۍ کربښـــې

****

# زۀ او تۀ

زۀ غـم دَ جهـان کـووم تـۀ غـم دَ خپلـو سـترګو
خوښ ئې ستا خُماروي زما نـم دَ خپلـو سـترګو

ماوئېل زۀ پښتون يم بيا بۀ ستا سترګو تـه نۀ ګورم
مات مې څۀ پۀ مينه کړو قسـم دَ خپلـو سـترګو

****

www.pukhto.net

تهٔ چې راشې اسمان شین بهٔ هغه دم شي
هغه دم بهٔ مې دَ سترګو اوښکې تم شي

چې شرنګا دې دَ پانزېب زما تر غوږ شي
رانه هېرې هم نغمې دَ زېرو بم شي

پهٔ قدم قدم بهٔ ګُل لارې کوڅې شي
کهٔ راپورته دې پهٔ دې لورې قدم شي

چې زمونږ سره يو دوه خبرې وکړې
خوږه ياره ستا دَ خُلې نهٔ بهٔ څهٔ کم شي

دَ رفيق علاج هم دا دے طبيبانو
لېونے بهٔ دَ ديدن په دارُو سم شي

****

ستانه کۀ پناه يم، تا سره يمه
ستا وجود کښې ساه يم تا سره يمه

لرې درنه نۀ يم چې خفه نۀ شې
دا يمه زۀ دا يم، تا سره يمه

تا سره يو ځائے چې يم ، يواځې يم
ستا نۀ چې جُدا يم، تا سره يمه

لاره مې جُدا ده دَ مُلا نه بس
تا منزل ته بيا يم ،تا سره يمه

ګُلې دَ چا نه يم ګُمان مۀ کوه
ستا يمه زۀ ستا يم، تا سره يمه

www.pukhto.net

بيـا بـهٔ درنـه ځمـه بيـا بـهٔ ژاړمـه
اوس چې پهٔ خندا يم، تـا سره يمـه

لارې بـهٔ رفيقـه سـتا رڼـا کړمــه
ستا يم ستـا رڼا يـم ،تـا سره يمـه

****

# افسوس

زهٔ بـهٔ ئې څـهٔ يـاد لـرم مُسـکے مـې کـړه
ځـه کنـه مُسـکۍ شـه راتـه غلـې شـان

خــوږ يمــه اشــنا خــو تــا ونــهٔ خــوړم
خوري مې ستـا غمونـه سم دَ ګُړې شـان

****

ګُل خوبان ، ګُل رُخ ،ګُلې خندانه ده
ښُکلې هم دَ ګُل لهٔ خاندانه ده

څنګه بهٔ پښې لاړې شي چې زړهٔ نهٔ ځي
ګورې پهٔ شا ګورې ځي روانه ده

وګورو يو بل ته پهٔ مُسکې نظر
غلي شو بيا دواړه زمونږ ورانه ده

زهٔ ورله پهٔ سرو لمبو کښې راغلمه
وائي څنګه تهٔ راغلې حېرانه ده

تهٔ زما رفيق يې دَ بل چا نهٔ يې
تا باندې زما دُنيا ودانه ده

****

ډیوې مې ښکاریدلې پۀ نظر کښې څنګه څنګه
چې دا بۀ بلیدلې سمندر کښې څنګه څنګه

زُلفې دې پۀ مخ خوَرې وَرې وې لیونۍ ګڼې
چې شوخې پلوَشې راغلې پۀ نمر کښې څنګه څنګه

حالاتو پکښې جوړې هنګامې کړلې بېسیاره
چې اوسي بۀجانان مې پۀ ځیګر کښې څنګه څنګه

ستا زُلفو کښې ګُلونه څومره خوند کوي جانانه
چې دا راڅوکیدلې پۀ تور غر کښې څنګه څنګه

څښلې بۀ رفیق هم ستا پۀ لپو کښې اوبۀ ګُلې
خو تندې لیونے کړو پۀ ګودر کښې څنګه څنګه

****

www.pukhto.net

جوړې چې پهٔ سترګو کښې خبرې شوې
سترګو دې بيا نهٔ کاتهٔ کافرې شوې

دومره ډېر مې وژړل پهٔ تا پسې
اوښکې مې راځې نهٔ مرورې شوې

شکر دے دَ زړهٔ نهٔ دې خبر شومه
ښهٔ شوه چې پردې دَ مېنځ نه لرې شوې

هر ملګرې پرېښودم پهٔ لاره کښې
خپلې حوصلې زما ملګرې شوې

www.pukhto.net

وې خو بې قیمته وې پهٔ سترګو کښې
اوښکې چې راتوئې شوې ملغلرې شوې

دا پکښې کوم تار رفیق چیړلے دے
دا دَ غم پهٔ ساز کښې چې سندرې شوې

****

## غیرت

خیر دے تهٔ ځه خو لوپټه دې راکړه
چې زهٔ ترې ځان ته تېزَندي واچوم

دَ خپل رقیب علاج چې ونهٔ کړمه
بیا بهٔ لاسونو ته بنګړي واچوم

****

وَس دې الله راکړي چې ئې ګُل کړمه
ګرانې چې سمسور درله وربل کړمه

ستا تصویر دَ کتې سر تهٔ اکثر ږدمه
خوب نه چې راپا سم بیا ئې ښُکل کړمه

هسې شاعرۍ مې وینه وچه کړه
ما خو وې چې زهٔ بهٔ تا غزل کړمه

یار شته نهٔ یاران شته نهٔ مې خپل شته ځوک
بس یو لېنتوب دے چې ئې خپل کړمه

ستا نه خو رفیقه زهٔ خبر نهٔ یم
زهٔ دې سم پهٔ ځان پسې پاګل کړمه

****

نـهٔ مـې دلبـر نـهٔ مـې دلـدار دے کنـه
دَخپـل مطلـب د پـاره يـار دے کنـه

پوهه شوم ستا پهٔ خاموشۍ پوهه شوم
چـې مـې درزيـږي زړهٔ انکـار دے کنـه

جانانـه رابـهٔ شـې کـهٔ رابـهٔ نـهٔ شـې
څــهٔ بــې قــراره انتظــار دے کنـــه

مينـه کـوي سـر تـه ئـې نـهٔ رسـوي
عجيبــهٔ يار عجيبــهٔ کار دے کنـــه

زهٔ يـم دَ کلـي نـو سـاده بـاده يـم
هغـه دَ ښـار دے نو هوښيار دے کنـه

www.pukhto.net

زما پـهٔ ځـائے کـوي دَ ځـان خبـره
جـوړې رقيـب زمـا رېبـار دے کنـه

بغېـر دیدنـه ژونـدون نـهٔ قبلـوي
ځکـه رفیـق مـرګ تـه تيـار دے کنـه

****

## پښتون

تـهٔ بـهٔ تـر څو پـورې کـوې ظلمونـه
زهٔ ګورے هم بې لاسو پښو نـهٔ يمـه

زهٔ هم پښتون دَ پښتنې خاورې يم
چرتــه راوړے زهٔ اوبــو نــهٔ يمــه

****

هر څهٔ دې منم خو دا دې نهٔ منم
یاره دا دَ طنز خندا دې نهٔ منم

مینه کهٔ دَ زړهٔ کوې نو وایه
دا ګورے دَ سترګو غلا دې نهٔ منم

بیا بیا راته مهٔ وایه چې بیا بهٔ شي
دا ځلې څه خبر خو بیا دې نهٔ منم

ماته چې وعده کړې پهٔ خندا شې بیا
دا دَ بې ننګۍ ادا دې نهٔ منم

نن درته رفیق صفا صفا وایم
وا مې وره اشنا چې نا دې نهٔ منم

****

سـم چې غُـلام ذهـن نـه ازاد شـې تـهٔ
بيـا بـهٔ پـهٔ رښـتيا زمـا هېـواد شـې تـهٔ

زړهٔ پـــهٔ دلاســـه دلاســـه غلـــے کـــړم
بيا لکه ماشوم غونډې ورياد شې تـهٔ

وينـې بـهٔ ستا شـونډو لـه دَ زړهٔ وركـړم
خبر كـهٔ زهٔ برباد شم خوچې ښاد شې تهٔ

راكـړه پـهٔ يـو ځـائے رالـه هـر څـهٔ راكـړه
بختـه چې دَ غـم نـه مې ازاد شـې تـهٔ

وخته بيا بـهٔ ډېر څـهٔ ډېر څـهٔ زده كړمـه
زهٔ چې دې شاګرد شمه استاد شې تـهٔ

وئـې وئېـل رفيقـه دا ارمـان مـې دے
زهٔ چې شيرينۍ شمه ، فرهاد شې تـهٔ

****

www.pukhto.net

❀

څـهٔ وشـو اشـنا کـهٔ مـونږ دَ کلـي يُـو
زړهٔ باندې صفا يـو څومره ښُکلي يُو

څنــګ دَ مُحبــت سـندرې ووايــو
مـونږ خـو بـس دَ ژبـې نـه تړلـي يُـو

پـام کـوه محرومـه مـو سـاقي نهٔ کړې
ډېـر درتــه دَ لــرې نــهٔ راغلــي يُــو

ځــان ســره مــو مينــه ، وفــا وړي دي
مـونږه چې پـه کـوم لـوري هم تلي يُـو

مــونږه پښــتنو کښــې اتفــاق نشــته
نـور ګـورے کمــال تــه رسـيدلي يُـو

شور مو پۀ زړګو کښې ایسار کړے دے
هر څو دَ بهر نه که مونږ غلي یُو

دا هُنر رفیقه مونږ خپل کړے دے
هر ځائے هر مُشکل ته خندیدلي یُو

****

## هُوښیار جانان

هسې دې پۀ مینه لږ ککر کړمه
بیا دې پۀ غمونو باندې مړ کړمه

پړمې کړه بیا مړ مې کړه متل دے دا
تا چې کله مړ کړم بیا دې پړ کړمه

****

ګرځم چې لندن کښې هم پۀ ښُکلي مازيګر
ما تـه رايـاديږي دَ خپـل کلـي مـازيګر

ډېر ئـې هـم ديـدن لـه دي راغلـي مـازيګر
ډېــر دغســې تــږي تلــي مــازيګر

تـا دَ بـام دَ سـر نـه چـې کتلـي مـازيګر
مـا بانـدې شـعرنه وريـدلي مـازيګر

ستا دَ لوپټې نه چې الوتے دے سُور رنګ
هـوش حـواس مـې دواړه الـوتلي مـازيګر

دلته پۀ دې خوږ کښې هم دَ دې ګټې پۀ سر
ډېـرو زاهـدانو شـراب څښـلي مـازيګر

غـم دَ رفيـق غـاړې لـه راغلے دے ماښـام
تـا ورتـه د لـرې نـه خنـدلي مـازيګر

****

دَ شیخ پخپله جوړې نیت ښهٔ نهٔ دے
ځکه خو وائي محبت ښهٔ نهٔ دے

محبت ښهٔ دے خلقه ډېر ئې کوئ
مهٔ کوئ مهٔ کوئ نفرت ښهٔ نهٔ دے

دارو مدار دَ هر عمل دے پهٔ نیت
چې دَ ریا شي عبادت ښهٔ نهٔ دے

زما دَ ژوند کتاب پرانستے پروت دے
پهٔ خپله خُلهٔ دَ ځان صفت ښهٔ نهٔ دے

دَ يــو خبــره ثلــه بــل تــه کــوې
کــم عقلــه يــاره دا عــادت ښــهٔ نــهٔ دے

تــهٔ چــې نامــه دَ رقيــب مــا تــه واخلــې
جانانــه دغــه شــرارت ښــهٔ نــهٔ دے

پښــتون زړګــي لــه مــې بــې سَــته راځــه
دَ زړګــي سَــره دومــره سَــت ښــهٔ نــهٔ دے

رفيقــه دلتــه تشــدّد ســېوا شــو
دَ يــار دَ ســترګو ســلطنت ښــهٔ نــهٔ دے

****

www.pukhto.net

نن مې ډېر انتظار وکړو يار اوده ؤ
ما ئې ښکلې ديدار وکړو يار اوده ؤ

پټې سترګې ورو پهٔ شونډو کښې مسکے شو
ما چې غلے اقرار وکړو يار اوده ؤ

سور ګلاب مې ورته کېښودو اوربل کښې
ما دَ مينې اظهار وکړو يار اوده ؤ

دَ يو لاس نهٔ مې چاپېره ورله تار کړو
ما چې غږ پرې دَ يار وکړو يار اوده ؤ

يو امېل مې لوَنګين کړو ور پۀ غاړه
بيا مې تګ پۀ تلوار وکړو يار اودۀ ؤ

اوس بۀ خپل ځان پېژندے نۀ شي چې ويخ شي
ما رفيق ئې سِنګار وکړو يار اودۀ ؤ

****

# ارمان

غم راکوي ماله پۀ اختر جانان
ما نۀ وي هر وختې مروَر جانان

دې ارمان مې تورې زُلفې سپينې کړې
ګُل چې ورله راوړي مُسافر جانان

****

.

ستا تصویر ته مې بلها خبرې وکړې
نن مې سَمې پهٔ یو ساه خبرې وکړې

ما کهٔ هر څو پهٔ خندا خبرې وکړې
خو تا بیا هم پهٔ ژړا خبرې وکړې

دا چې ما ته نن اشنا خبرې وکړې
ورته غوږ کښې چرته چا خبرې وکړې

دا چې کله ما او تا خبرې وکړې
را پسې ټولې دُنیا خبرې وکړې

تا کهٔ ما ته هم زما خبرې وکړې
ما هم تا ته ټولې ستا خبرې وکړې

www.pukhto.net

مـا کــه ډېــرې دَ وفــا خبــرې وکــړې
خــو تــا بیــا هــم دَ جفــا خبــرې وکــړې

پـهٔ محفـل کښـې ټولـو خلقـو دروغ ووې
یـو رفیـق پکښـې رښـتیا خبـرې وکـړې

****

# رقیب

چرتــه زهٔ کــوے شــم دَ رقیــب عــلاج
مــار چرتــه تــړلے چــا پــهٔ پــړي دے

ماتــه پــهٔ سُــور شــال کــړم دَ لیلٰی مینــه
هاغــه غــوړولے چــا پــهٔ پــړي دے

****

www.pukhto.net

ډېر څهٔ لېوني شان ارمانونه مې پهٔ زړه دي
سترګو دَ جانان ته مې اوتر اوتر کاتهٔ دي

دا چې اوښکه اوښکه ستا پهٔ مخښکې مې لېمهٔ دي
دا ئې ستا لهٔ غمه په هجران کړې اوبهٔ دي

بیا راته هم داسې دَ قاتل پهٔ نظر ګوري
لا خو مې زخمونه دَ زړګي روغ شوي نهٔ دي

دا چې دي پهٔ شونډو رَپ رَپے راشي بې واره
ستا پهٔ زړهٔ دننه راته وایه چې څهٔ دي

ما درته پهٔ هر قدم ګلونه دي کرلي
ستا دَ لاس ازغي راته پهٔ لارو کښې خوارهٔ دي

www.pukhto.net

ځکـه پـهٔ محفـل کښـې راکـتے نـهٔ شـې جانانـه
سـترګو دې زدهٔ کـړي هـم کاتـهٔ لکـه دَ غلـه دي

زهٔ رفیـق رښـتونے یـم رښـتیا رښـتیا بـهٔ وایـم
څهٔ چې مې پهٔ زړهٔ دي هغه ټول زما پـهٔ خُلهٔ دي

****

# خپل وطن

کـهٔ ډېر ښائسـته لکـه دَ ګُـل وطـن وي
سړے پـردے وي چې دَ بـل وطـن وي

دَ ډېره سوخته کهٔ تـرې لاړ شـي سړے
خو خپل وطن خو اخـر خپـل وطـن وي

****

انسان تـه خفـه کيـږو هـم انسـان تـه خوشـحاليږو
رقيـب پـۀ ګټـو وَلـو خـو جانـان تـه خوشـحاليږو

دا مـونږه لېـوني دَ چـا دُنيـا تـۀ نـۀ پسـخيږو
صـحرا تـه خوشـحاليږو ، بيابان تـه خوشـحاليږو

پۀ غم پسې ښادي او پـۀ ښادۍ پسې بيا غم وي
خفه شو خوشحالۍ تـۀ او خفګان ته خوشحاليږو

مونږ ته اُلټه ښکاري دَ قسمت عکسونه ټول عمر
وِېريـږو شـين اسمان نـه او بـاران تـه خوشـحاليږو

بيـا زړونـه مـو خـوږيږي چې پـوهېږو پـوره کيـږي
دا مـونږ ځکـه رفيقـه تـل ارمـان تـه خوشـحاليږو

****

لاړو بیـا نمـر پرېوتــو
دَ غـر پــهٔ سـر پرېوتــو

صـــحر راوختلـــــو
پــهٔ مــازیګر پرېوتــو
تـا تـه دَ غـم څـهٔ پتـه
مـا بانـدې غـر پرېوتـو
مـنګے دې ځنګـه جینـۍ
کـوز پـهٔ ګـودر پرېوتـو
تـا ځـان سـره وخانـدل
زمـا ځیګـر پرېوتـو
شــوه تماشــه دَ کلــي
کـور نـه مـې وَر پرېوتـو

تـا ورتــه څــهٔ وکتــل
رفیــق اوتــر پرېــو تــو

****

www.pukhto.net

زما سترګو کښې دَ خوب نخښې ښکاره شوې
بل مې پښو کښې دَ پړسوب نخښې ښکاره شوې

خپله مور چې دې پهٔ ساعت پهٔ ساعت ځاري
ګُلې ستا دَ پېغلتوب نخښې ښکاره شوې

لا ځلمےؤ دَ ځوانۍ نشه کښې مستؤ
دَ ارمان دَ سړيتوب نخښې ښکاره شوې

چې نسيم ئې پهٔ چېړلو شُونډې سرې کړې
دَ کَلۍ دَ مُسکيتوب نخښې ښکاره شوې

دَ ګرېوان تنۍ ئې تولې شولې ماتې
دَ رفيق دَ لېونتوب نخښې ښکاره شوې

****

www.pukhto.net

چې درد کوي خوږ زړهٔ ځومره مزه کوي
چې نهٔ وائې پهٔ خُلهٔ څومره مزه کوي

څهٔ خوږ شان انتظار دے لارې څارمه
جانانه ستا راتله څومره مزه کوي

پهٔ ډيره مُوده پس دَ ديدن خوَند وي ډېر
پهٔ تنده کښې اُوبهٔ څومره مزه کوي

وصال وي کهٔ هجران وي کهٔ وي سر دَ دار
چې مينه وي هر څهٔ څومره مزه کوي

راځه چې مرَور شو او پخُلا شو بيا
ترخو پسې خوارهٔ څومره مزه کوي

رفيقه جادوګرې دي دا ستا سترګې
چې مړهٔ کوي کاتهٔ څومره مزه کوي

****

خوشې پولې غاړې شوې چې لاړې تـۀ
ورانې شوې وبجاړې شوې چې لاړې تـۀ

دا لارې کـوځې پـۀ تـا ابـادې وې
لاړې هسې شاړې شوې چې لاړې تـۀ

سترګې مې دَ اُوښکو نـۀ راډکې شوې
وَچې زما لاړې شوې چې لاړې تـۀ

تـا پسې ژړېږم دَ ماشوم پـۀ شان
اُوښکې مې تر غاړې شوې چې لاړې تـۀ

بې اُوره سوزېږي رفيق تـا پسې
غوښې ئې لتاړې شوې چې لاړې تـۀ

****

مـهٔ ځـهٔ چـې خـزان نـهٔ شـي
کـور مـې دَ زړهٔ وران نـهٔ شـي

سـترګې مـې راډکـې شـوې
پـاتې شـه بـاران نـهٔ شـي
تلـو کښـې راتـه وګـوره
پـاتې دې ارمـان نـهٔ شـي
تـا بـهٔ ځنګـه هېـر کړمـه
هېـر چې رانـه ځـان نـهٔ شـي
پـام کـوه مالیـاره ډېـر
مـړاوے ګُلسـتان نـهٔ شـي
بیـا مـي تنګـوي ارمـان
زوړ ښهٔ دے چې ځوان نهٔ شي

ځـان بـائېلم رفیـق پسـې
ګتـه بـې تـاوان نـهٔ شـي

***

خاورې بهٔ خپل ځان کړمه
ګل بهٔ مې جانان کړمه

شونډو نه ئې صبر کړه
مات بهٔ دې پېزوان کړمه

ځو مره ډېر ښائست لرې
زهٔ خو دې حيران کړمه

ډېر ثواب بهٔ وګټم
ښکل چې دې چشمان کړمه

راولئ شېخان راله
ټول بهٔ جنتيان کړمه

ځار دَ غريبۍ نه شم
ستا نه ئې قربان کړمه

ويني چې دَ زړهٔ ورکړم
ګل بهٔ مې ارمان کړمه

سترګو دې رفيقه زهٔ
بيا چرته روان کړمه

****

زما وي خوښې ستا دَ خُلې خبرې
راځه چې نن وکړو دوهٔ درې خبرې

زما او ستا دَ مینې دا فرق دے
زهٔ اوږدوم تهٔ لنډَوې خبرې

واعظه تهٔ جانان ته څرته رسې
هغه کوي ښومره خوږې خبرې

ما ته زما سترګو کښې تهٔ ښکارېږې
ما ته کوي هم آئینې خبرې

مهٔ کوه ځان پخپله مهٔ سپَکوه
مهٔ کوه چاته دَ پَردې خبرې

حُجرې تــه مـۀ راوړه دَ کــور خبـرې
مـۀ کـوه کـور کښـې دَ حُجـرې خبـرې

دا خو ځواني ده شـېخه څۀ کوې تـۀ ؟
مـــۀ کـــوه ماتـــه دَ تـــوبې خبـــرې

زړۀ مــې خفــه شــي ځــان لــه وژاړمــه
چــې دې رایــادې شــي زَړې خبــرې

فضــول خبـرو نــۀ خــو غلــے ښــۀ یــم
ځکــه چــې لیکــي فرښــتې خبــرې

رقیــب تــه چــا وکــړې زمــا خبــرې
زۀ خــو حیــران کړمــه هــم دې خبــرې

چرتــه هــم خپلــې وعــدې نــۀ مــاتوې
رفیــق کــوي تــل پُښــتنې خبــرې

****

ګُل مې شي لاسونو کښې ازغي خپله
ما سره قسمت لوبې کوي خپله

ستا پهٔ وچو شُونډو دَ خندا نه ځار
ما خو درلُوګے کړه غريبي خپله

وائي مُشک او عشق دَ پټېدو نهٔ وي
شړنګ کوي پهٔ لېچو کښې بنګړي خپله

خبر دے ستا غمونه کهٔ مې زړهٔ وخوري
ما ورته بخښلې زندګي خپله

لاړو نن قسم دَ دواړو مات شولو
راغله مو پهٔ مئېنځ کښې جُدائي خپله

www.pukhto.net

ځان له خپلې سترګې ښکلې تورې کړي
ما باندې بيا سترګې توروي خپله

ډېرې دَ تقدير خبرې مهٔ چېړه
کيږي بهٔ رفيقه څهٔ چې وي خپله

****

# دُعا

هسې بهٔ دَ تشې خُلې توبې څهٔ له وباسمه
جام بهٔ ماتوؤمه پهٔ حالت دَ بې هوشۍ کښې زهٔ

دغه يوهٔ دُعا ده چې ئې ټول عمر زهٔ غواړمه
ياد چې کړمه تا دَ ځنکدن هرې سلګۍ کښې زهٔ

****

خوند کوي چې ځم راپسې ژاړې تهٔ
ما پهٔ دُعاګانو کښې چې غواړې تهٔ

نن دې راله کلکه غېږه راکړله
لاړې بيا جُدا مې شوې لهٔ غاړې تهٔ

ځان له درنه هيڅ سپرليه نهٔ غواړم
يار بهٔ پهٔ ګُلونو کښې رانغاړې تهٔ

زهٔ چې دې پهٔ غرونو باندې سر کړمه
اوس راپسې کچ کړه دشتې ، شاړې تهٔ

اے زما رفيقه زهٔ بهٔ څهٔ کووم
پرېښودم دې چا ته ، رانه لاړې تهٔ

****

ګُل مې تخنوَلو پانې پانې شو
یار وخندېدلو پانې پانې شو

ستا دَ یو انکار سره زړګے زما
ورو ورو خورېدلو پانې پانې شو

تا پسې زما دَ کانې سخت زړګے
ډېر وژړېدلو پانې پانې شو

فکر مې هم ستا دَ بې رُخئ پهٔ تال
سَم وځنګېدلو پانې پانې شو

تا غُصه غُصه رفیق ته وکتل
رنګ ئې زیړېدلو پانې پانې شو

****

فکـــر لـــرم ، فـــن لـــرم ، هُنـــر لـــرم
زهٔ پـهٔ غريبـۍ کښـې هـم سرهٔ زر لـرم

نـه کيـږي اثـر پـهٔ مـا دَ شـنو سترګو
زړهٔ چـې ملاکنـډ لـرم، خيبـر لـرم
سـترګه مـې هـم نـهٔ سـوزي مُغلـو نـه
زهٔ ملـک احمـد غونـدې رهبـر لـرم
څهٔ بهٔ کړم رنګين رنګين ماښام دَ چا
زهٔ خپـل مـازيګر لـرم، دلبـر لـرم
لا پکښې ژوندے ساتم پښتون تهذيب
لا خـو زهٔ حُجـره لـرم ، ګـودر لـرم
هسې پـهٔ هـر چـا بانـدې زهٔ خـوږ لـږم
داسـې قُـدرتي غونـدې اثـر لـرم

زهٔ رفيـق دَ لـوړو اِرادو څښـتن
پورتـه اسـمانونو تـه نظـر لـرم

****

# سندره

بس خلقو پکښې وسېزل ځانونه ،دي اورونه
اورونه دي اورونه نفرتونه دي اورونه

ګُلونه ،ګُل غوټۍ هم ګُلشنونه تالا کيږي
چاپېره پکښې سوزي منظرونه تالا کيږي
ماليار ورته ژړيږي ديدنونه تالا کيږي

وَله ده که درياب دے کۀ سيندونه ، دي اورونه
اورونه دي اورونه نفرتونه دي اورونه

چې زړونه زړونه زغلي دَ يو بله جُدا کيږي
دا خلق بۀ دَ يو بل نه پۀ خپله جُدا کيږي
بورا هم لېونے شو دَ سُور ګُله جُدا کيږي

راځي بۀ اخر ځنګ محبتونه ،دي اورونه
اورونه دي اورونه نفرتونه دي اورونه

لیلیٰ نهٔ پیدا کیږي اوس مجنون نهٔ پیدا کیږي
دامینه مُحبت اوس پهٔ لتهون نهٔ پیدا کیږي
خپل سر پهٔ هر چا ځانګي خو زنګون نهٔ پیدا کیږي

رفیقه څهٔ بهٔ کیږي زړونه زړونه دي اورونه
اورونه دي اورونه نفرتونه دي اورونه

****

## جانان

هغه وږمه چې پهٔ ګُلاب کښې نشته
هغه نغمه چې پهٔ رباب کښې نشته
هغه نشه چې پهٔ شراب کښې نشته
هغه چپه چې پهٔ دریاب کښې نشته
هغه قیصه چې پهٔ کتاب کښې نشته
جانانه ستا بهٔ چاته څهٔ وایمه
ستا خو جواب پهٔ یو جواب کښې نشته

****

# سندره

واوره دَ ګودر چغه ، تهٔ راشه مازیګر پهٔ سېل
راشه مازیګر پهٔ سېل تهٔ یاره دَ ګودر پهٔ سېل

دلته نظاره ټوله پیکه ده دم ختلې ده
ساه ترینه وتلې ده بې دمه غلې غلې ده
راشې چې تهٔ راشې نو بیا ستا پهٔ شانتې ښُکلې ده

راوله نظر پهٔ سېل او رادې وړه ځیګر پهٔ سېل
راشه مازیګر پهٔ سېل تهٔ یاره دَ ګودر پهٔ سېل

اوس هغه مستي نشته ګودر کښې هغه رنګ نشته
اوس دَ منګوټو قطار او اوس دَ بنګړو شرنګ نشته
هغه دَ پېغلو کو اتڼ ، ټپل ، ټوقې او جنګ نشته

www.pukhto.net

راشي توتکرکي او چرچڼي لوئي لښکر پهٔ سېل
راشه مازیګر پهٔ سېل تهٔ یاره دَ ګودر پهٔ سېل

غاړه دَ ګودر خوَشې دَ ځان سره ژړا کوي
یخې هواګانې پکښې شَغ وخوري شغا کوي
تا ته کاني بوټي انتظار هم وار خطا کوي

راشه دیدن راوړه راشه راشه تهٔ دلبر پهٔ سېل
راشه مازیګر پهٔ سېل تهٔ یاره دَ ګودر پهٔ سېل

ووایه سندرې دَ همځولو جینکو سره
راشه ګُلې راشه تهٔ دَ ساز سره نغمو سره
روغ بهٔ هم رفیق شي ستا دَ یو نظر لیدو سره

دا یو لېونے دے چې راځي دلته اکثر پهٔ سېل
راشه مازیګر پهٔ سېل تهٔ یاره دَ ګودر پهٔ سېل

****

www.pukhto.net

## برغيزه

هلک : لارې مې څاره ګُلې سبا زهٔ بهٔ درځم
تا سره وعده کووم رښتيا زهٔ بهٔ درځم
جينۍ : لارې بهٔ څارمه زهٔ سبا تهٔ بهٔ راځې
پاتې ګورے نهٔ شې خامخا تهٔ بهٔ راځې
هلک : تا له چې د رځم نو څهٔ تُحفه بهٔ درله زهٔ درووړم
تهٔ ووايه چې څهٔ درووړم
جينۍ : ما له چې راځې نو دا تُحفه بهٔ راله تهٔ راوړې
بس ماله بهٔ خپل زړهٔ راوړې
هلک : زړهٔ بهٔ درله درووړمه لېلىٰ زهٔ بهٔ درځم
تا سره وعده کووم رښتيا زهٔ بهٔ درځم

www.pukhto.net

جينۍ : وچ مې سپيلني کړه نن چې تا له پرې نظر مات کړم
جادو ، کوډې ، منتر مات کړم
هلک : ښهٔ دي سپيلني ورسره وکړه دَ نمبر لوګے
تهٔ وکړه راته ډېر لوګے
جينۍ : ځان بهٔ کړم لوګے درته بيا بيا تهٔ بهٔ راځې
پاتې ګورے نهٔ شې خامخا تهٔ بهٔ راځې
هلک : دربهٔ شمه تاله تا اغوستې سرهٔ جوړه بهٔ وې
سُور ګُل هم درسره بهٔ وي
جينۍ: سرهٔ بهٔ مې جوړه وي او پهٔ لاس کښې مې سور ګل بهٔ وي
پهٔ پوزه مې چار ګُل بهٔ وي
هلک : ګورم ستا پهٔ شُونډو بهٔ خندا زهٔ بهٔ درځم
تا سره وعده کووم رښتيا زهٔ بهٔ درځم
جينۍ : روغ دې الله راوله زهٔ ستا پهٔ انتظار يمه
هر وخت سترګې پهٔ لار يمه
هلک : روغ چې تاله درشمه کوه راته دُعا ياره
دَ ګُل پهٔ شان زما ياره
جينۍ : زهٔ درته کووم ياره دُعا تهٔ بهٔ راځې
پاتې ګورے نهٔ شې خامخا تهٔ بهٔ راځې

****

www.pukhto.net

# سندره

هسې پۀ خُله درته خندېږم ياره
غُلام وطن کښې مينه چرته کيږي
پۀ زړۀ پرهر يمه ژړېږم ياره
غُلام وطن کښې مينه چرته کيږي

دا زۀ چې تا له ګلابونه راوړم
دا دے دَ سرو وينو باران جانانه
تاله چې رنګ رنګ ديدنونه راوړم
ډېر دي خاطر دے پۀ ما ګران جانانه

www.pukhto.net

پهٔ هر ازغي باندې غوښېږم یاره
غُلام وطن کښې مینه چرته کیږي
پهٔ زړهٔ پرهر یمه ژړېږم یاره
غُلام وطن کښې مینه چرته کیږي

نن دې پهٔ سر لاسونه ږدمه یاره
نوے قسم نوې لوظونه کووم
تا بهٔ یوائې نهٔ پرېږدمه یاره
ستا پهٔ څنګل بهٔ زهٔ خوبونه کووم

خو زهٔ خوبونو کښې وېریږم یاره
غُلام وطن کښې مینه چرته کیږي
پهٔ زړهٔ پرهر یمه ژړېږم یاره
غُلام وطن کښې مینه چرته کیږي

زر ده چې مونږه خوشحالئ ووینو
پهٔ وچو شُونډو سپورو سَنو قسم
وطن بهٔ مونږ دَ ازادئ ووینو
دَ پېغلتوب پهٔ تورو سَنو قسم

پــهٔ اُمیــدونو مــې پــوهېږم یــاره
غُـلام وطـن کښـې مینـه چرتـه کیـږي
پــهٔ زړهٔ پرهــر یمــه ژړېــږم یــاره
غُـلام وطـن کښـې مینـه چرتـه کیـږي

بیا بهٔ ستا مینې ته وزګار شم رفیق
خو چې پېغور دَ غُلامۍ ختم شي
قُربان قُربان ستا نه بهٔ ځار شم رفیق
خو چې یو ځل دا زولنۍ ختم شي

بیا بهٔ هم ستا زړهٔ کښې اوسېږم یاره
غُـلام وطـن کښـې مینـه چرتـه کیـږې
پــهٔ زړهٔ پرهــر یمــه ژړېــږم یــاره
غُـلام وطـن کښـې مینـه چرتـه کیـږي

****

www.pukhto.net

## سندره

پـهٔ خــوب کښــې مــې لیــدلے وې بېګــاه یــاره
وایمــه رښــتیا یــاره ، ښُــکلے ښــکارېدې
دا ځکــه خوشــحالې ده نــن پــهٔ مــا یــاره
وایمــه رښــتیا یــاره ، ښُــکلے ښــکارېدې

ماوئېل دا دے وګوره ، لاسونه مې خپل سرهٔ راوړهٔ
تا وئېل سترګې پټې کړه ، چې ما درله نن څهٔ راوړهٔ

تــا کېښــود پــهٔ کمڅــو کښــې ګــل زمــا يــاره
وايمـــه رښـــتيا يـــاره ، ښُـــکلے ښـــکارېدې

مــا درتــه ښــهٔ وژړل چــې تــا وې بــس دے څمــه زهٔ
تاوئېــل خفــه کيــږه مــهٔ بــس تــا لــهٔ بيــا راځمــه زهٔ
تـــا اُوښـــکې زر زمـــا کړلـــې صـــفا يـــاره
وايمـــه رښـــتيا يـــاره ، ښُـــکلے ښـــکارېدې

مــا وئېــل اے رفيقــه پــهٔ خبــرو دې مړيـــږم نــهٔ
تا وئېل لېونىٰ زهٔ زهٔ خو څهٔ ستا نه جُدا کېږم نهٔ
بيـــا دواړه شـــو يـــو بـــل تـــه پـــهٔ خنـــدا يـــاره
وايمـــه رښـــتيا يـــاره ، ښُـــکلے ښـــکارېدې

****

## سندره

خوند نهٔ کوي دلته دَ لندن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

ښُکلے کهٔ یورپ دے خو زما نهٔ دے
څهٔ بهٔ برمنګم څهٔ مانچسټر کړمه
دا لکه دَ هغې دلرُبا نهٔ دے
کله چې رایاد زهٔ پېښور کړمه

بده لګي دلته پهٔ بدن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

دلته کهٔ هالېنډ شته هم سکاټلېنډ شته دے
ښُکلي ئې نامې دي هم تصویر ښُکلے
هلته هم کُمراټ او هم سلېنډ شته دے
ډېر مې ترې خدائېګو چې خپل دیر ښُکلے

خُشکه ده دَ غرونو دَ لمن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

ښُکلے هم کېمبریج دے هم آکسفورډ ښُکلے
دلته کښې نالې صفا سړک ښُکلے
ډېر مې پېښور کښې ترېنه بورډ ښُکلے
ښُکلے مې نوښار دے هم اټک ښُکلے

خوَشې دَنارتهامټن او سویډن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

دلته کښې سحر او مازیګر نشته
بس خو یوه منډه دَ روزګار وي تل
دلته کښې حُجرې نشته ګودر نشته
نۀ چرته زمونږ غونډې وزګار وي تل

یخه وي هم دلته ماسخوتن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

دلته ملاکنډ ، خېبر ، کالام نشته
نشته دے دَرې ښې قدرتي غونډې
دلته کښې سکون نشته ارام نشته
شنته دے نظارې خو مصنوعې غونډې

نشته سم سپرلے نۀ دَ چمن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

دلته کښې هر څۀ شته خو یاران نشته
هر سړے هم شپه او ورځ پۀ ځان وي تل
ما سره زما ښُکلے جانان نشته
منم چې نرے نرے باران وي تل

نشته دے رفیقه دَ دیدن هوا
ماته رایادیږي دَ وطن هوا

****

# سندره

شمارم دې راتلو ته ورځې شپې ياره
کله بهٔ راځې ياره ، ډېره ناقلاره يم
تېرې دې بلها کړلې مودې ياره
کله بهٔ راځې ياره ، ډېره ناقلاره يم

زهٔ خو منمه مُسافر يې ياره
پهٔ زړهٔ بهٔ ډېر لرې غم
دَ جُدايۍ نه بهٔ خبر يې ياره
پهٔ زړهٔ بهٔ ډېر لرې غم

زهٔ ئې کړمه ، هم زرې زرې ياره
کله بهٔ راځې ياره ، ډېره ناقلاره يم

بغېر لهٔ تا دلته سحر شنګه دے
پيکه پيکه غوندې وي
دلته کښې خوند دَ مازيګر شنګه دے
پيکه پيکه غوندې وي

شي مې پهٔ ماښام کښې سترګې سرې ياره
کله بهٔ راځې ياره ، ډېره ناقلاره يم

ورځ کهٔ زهٔ تېره کړم پهٔ يو ځهٔ بل ځهٔ
خو شپه مې نهٔ تېرېږي
مينه کهٔ هېره کړم پهٔ يو ځهٔ بل ځهٔ
خو ياد دې نهٔ هېرېږي

زهٔ کووم ستا غم کښې شوګيرې ياره
کله بهٔ راځې ياره ، ډېره ناقلاره يم

ستا خنداګانې چې رايادې کړمه
زړهٔ مې خُوږيږي بلها
رفيقه سترګې مې بربادې کړمه
زړهٔ مې خُوږيږي بلها

مهٔ راکوه بيا لرې نېټې ياره
کله بهٔ راځې ياره ، ډېره ناقلاره يم

****

## سندره

ډېر زيات راباندې ګران دے شومره ښُکلے دے
دَ ديـر پـهٔ ښُـکلو غرونـو کښـې مـې کلے دے

دَ بَـره ديـر وارې سـيمې پـهٔ ښنـګ کښـې
نـوم ئـې دے کاکـړ خـو چرتـه راشـه تـهٔ
دلتـه کښـې ښائسـت دے فطرتـي ښائسـت
وائـي هـر کلـے نظـر تـه ، راشـه تـهٔ

اے! هـر منظر ئې ځان لـه سينګار کړے دے
دَ ديـر پـهٔ ښُـکلو غرونـو کښـې مـې کلے دے

دلتـــه ګُودرونـــه ، چينارونـــه دي
دلتـــه کښـــې چـــاپېره غرونـــه دي
دلتـــه پـــهٔ هـــر لـــوري دي ورمـــې خـــوري
دلتـــه رنګارنـــګ ښـــکلي ګلونـــه دي

سپرلے ورته هم نن سبا راغلے دے
دَ دير پهٔ ښکلو غرونو کښې مې کلے دے

دلته سرهٔ غرمه دَ اوړي خوند کوي
دلته خو دَ وَنو ګُور ګور سيوري دي
واه يخه سيلۍ او بيا پهٔ ډاګه شپه
بل خوا شين اسمان دے ستوري ستوري دي

او نيم پلَو سپوږمۍ ته غر نيولے دے
دَ دير پهٔ ښُکلو غرونو کښې مې کلے دے

دلته شي سهړے تازه سحر
مست چې شي نسيم ورسره زړونه ځي
دلته زيړے نمر دَ مازيګر لکه
سُور سالو کښې ځوک پهٔ مکيزونو ځي

رفيق ځې دې ادا ته حيران تلے دے
دَ دير پهٔ ښُکلو غرونو کښې مې کلے دے

****

## سندره

سَم دَ ګُل پهٔ شان بهٔ شم
ستا دَ زړهٔ ارمان بهٔ شم
خبر دے تهٔ زړګے راکړه
ګوره ستا جانان بهٔ شم

يو په زړهٔ نرے يمه
بل لوګے لوګے يمه
مړهٔ راته ډېر مهٔ ګوره
تا باندې تاوان بهٔ شم

تلـــې ده مســـتي زمـــا
تـــا پســـې ځـــواني زمـــا
تـــا کــهٔ خنـــدا مســـته کــړه
مست بـهٔ شـمه ، ځـوان بـهٔ شـم

خـــاورې دې ارمـــان کړمـــه
تـــا چـــې زهٔ جانـــان کړمـــه
لـــر پـــهٔ مینـــه وګـــوره
ګـُـل بـهٔ شـمه ، خـان بـهٔ شـم

یـــاره پـــردے کېـــږه مـــهٔ
مـــا نـــه جُـــدا کېـــږه مـــهٔ
خـــوا لـــه مـــې نـــزدې راشـــه
ســـتا نـــه زهٔ قربـــان بـــهٔ شـــم

زهٔ مئـــین پـــهٔ تـــا رفیـــق
وایمـــه رښـــتیا رفیـــق
دا رښـــتیا کـــهٔ اومنـــې
ســـتورے د اســـمان بـــهٔ شـــم

****

## سندره

مـــا ســـره مـــهٔ کـــوه پښـــتو جانانـــه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا
تکـــل دې وکـــړه دَ راتلـــو جانانـــه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا

تهٔ چې رانهٔ شې لوئې نقصان بهٔ وشې
زهٔ بـــهٔ دَ ځـــان نـــهٔ مـــرور شـــمه بيـــا
زمـــا دَ ســـترګو نـــه بـــاران بـــهٔ وشـــي
پـهٔ سـېلابونو کښـې بـهٔ ورشـمه بيـا

ساه بـهٔ مـې هم شـي پـهٔ وَتـو جانانـه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا
تکـــل دې وکـــړه دَ راتلـــو جانانـــه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا

خبره دے تهٔ ومنه بس راشه يو ځل
قسم دې مات کړه ياره هيڅ نهٔ کيږي
راشه زما سره پهٔ خُلا شه يو ځل
قسم دې مات کړه ياره هيڅ نهٔ کيږي

طمع ساتمه زهٔ دَ ښو جانانه
مهٔ کوه مهٔ کوه ، خفه بهٔ ئې بيا
تکل دې وکړه دَ راتلو جانانه
مهٔ کوه مهٔ کوه ، خفه بهٔ ئې بيا

زهٔ هم پښتون يم ضد کولے شمه
خو خنګ ئې وکړم ياره ستا سره زهٔ
ستا نه زهٔ زيات کاني خوړلے شمه
کووم بهٔ ضد خو دَ دُنيا سره زهٔ

زهٔ هم پوهيږم پهٔ ترخو جانانه
مهٔ کوه مهٔ کوه ، خفه بهٔ ئې بيا
تکل دې وکړه دَ راتلو جانانه
مهٔ کوه مهٔ کوه ، خفه بهٔ ئې بيا

راشـه تـهٔ روغـه پـهٔ ګُـلاب بـهٔ وکـړو
هـر خـوا سـپرلے دے ګُلابونـه ډېـر دي
دواړه هم خپلو کښې حساب بهٔ وکړو
ګرانــه ســوالونه جوابونــه ډېــر دي

زمـا ژونـدون دے پـهٔ ازغـو جانانـه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا
تکـــل دې وکـــړه دَ راتلـــو جانانـــه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا

راشـه خبـرې بـهٔ ښـې سـپينې وکـړو
هېـر بـهٔ دَ ژونـد هغـه پـرون کـړو دواړه
يـو ځـو کنځلـې بـهٔ دَ مينـې وکـړو
بيـا بـهٔ اغـاز دَ ښـهٔ ژونـدون کـړو دواړه

رفيـق دې مـوړ کـړه پـهٔ خـوَږو جانانـه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا
تکـــل دې وکـــړه دَ راتلـــو جانانـــه
مـهٔ کـوه مـهٔ کـوه ، خفـه بـهٔ ئـې بيـا

****

# سندره

اوس هغه یاران هغه مزې کلي کښې نشته دے
چاله بهٔ راځې څهٔ له راځې کلي کښې نشته دے

نشته دے یاران اوس مازیګر کښې څهٔ مزه نشته
هغه لوبې، ټوقې ټوکې هلو وي نهٔ اوس پهٔ لارو کښې
هغه دَ خوَړ غاړه او ګودر کښې څهٔ مزه نشته
ښکاري چرته پېغلې او ځلمي نهٔ اوس پهٔ لارو کښې

نشــته اوس څهٔ نوري تماشې کلي کښې نشــته دے
چالــه بـهٔ راځـې څـهٔ لـه راځې کلي کښـې نشــته دے

هغـــه دَ ممـــاڼو او توتـــانو هـــلهٔو نـــوم نشـــته
دلتــه کښـې خدائے خبر چې ولې شـو غُـزان شـنډي
هغـــه شـــوريدونکي بُلبلانـــو هـــلهٔو نـــوم نشـــته
نـهٔ راوړي بچـي اوس واړه دلتـه شـو مارغـان شـنډي

رنګ پهٔ رنګ سندرې چې بهٔ وې کلي کښې نشـته دے
چالــه بـهٔ راځـې څـهٔ لـه راځې کلي کښـې نشــته دے

غـم وي کـهٔ ښـادي وي بس دَ هر سړي دَ ځان ده اوس
څــوک دَ چـا مَـړي او ژونـدي پُښـتنه نـهٔ کـوي
بــس دلتــه نامــه هــم ختمــه شــوې دَ انسـان ده اوس
خلــق دَ يــو بــل هــلهٔو بيخــي پُښـتنه نـهٔ کـوي

څـوک دَ چـا دَ قبـر جنـازې کلـي کښـې نشــته دے
چالــه بـهٔ راځـې څـهٔ لـه راځې کلي کښـې نشــته دے

هغـه کشـران چې بـهٔ اوزګـار وو پـهٔ روزګـار دي نـن
چـا سـره خبـرې لـهٔ خـدائيګو هـلهٔو وخـت نشـته
بيـا هـم خلـق هغسـې دَ بـل مـرګ تـه تيـار دي نـن
دوئـې سـره زړه هـلهٔو دَ مينـې هـم قيمـت نشـته

اوس هغه خوَږې خوَږې قیصې کلي کښې نشته دے
چاله بهٔ راځې څهٔ له راځې کلي کښې نشته دے

بُغض او حسد کینه پهٔ هر لوري خوَره ده نن
خلق دَ یو بل سره ریشتې میشتې اوس نهٔ پالي
سمه ځان ځاني هم پهٔ ذهنونو راخوَره ده نن
چا سره رفیقه څوک حُجرې مُجرې اوس نهٔ پالي

هغسې شریکې ورځې شپې کلي کښې نشته دے
چاله بهٔ راځې څهٔ له راځې کلي کښې نشته دے

****

## خپلې مور ته خط

زما خوږې ،زما درنې ، زما سپېڅلې مورې
سلام مې واخله زما ښُکلې زما خپلې مورې
نن راته ډېره بې اختياره شان رايادهٔ شولې
ما وئيل زما پهٔ شان بهٔ ستا زړهٔ هم بې قرار وي مورې
خط يو نيم کړے مُلاقات وي تسلّي پرې کيږي
ځکه خو کښناستم چې تا ته خپل حالات وليکم
رښتيا بهٔ وايم ، ما معاف کړه کهٔ څهٔ زيات وليکم
زهٔ ښهٔ جګ جوړ يم ستا دُعا ده ژوند مې ښهٔ تېرېږي
خو ستا يادونه مې نري نري پهٔ زړهٔ تېرېږي
سحر وختې دَ مُلا بانګ سره زهٔ پاسم مورې
پاسيدے چرته شم خو پاسمه دَ زړهٔ پهٔ زور
زهٔ خو پهٔ کور کښې ستا دَ ځار قُربان عادت ووم مورې
تا بهٔ مانځهٔ ته پاسولم زهٔ پهٔ ښُکلي اواز

ما بهٔ وې پاسېدم پهٔ ډډه بهٔ زهٔ بيا واوړېدم تا بهٔ راويښ کړمه زهٔ بيا پهٔ نازولي اواز دغه عادت رانه تر اوسه پورې تلے نهٔ دے خو موده وشوه ، ستا اواز مې اورېدلے نهٔ دے زهٔ دَ ټائيم پيس دَ کړنګ اواز سره راپاسم مورې پردے مزدور يم ، مزدورۍ ته زر زر ځان تيار کړم ځان له ناشته زر زر تياره کم پهٔ خپلو لاسو هغسې خوَند خو پکښې نهٔ وي ستا دَ ښُکلو لاسو خبر! زهٔ روان شم مزدورۍ له ، چې پهٔ لاره ځمه هغه دَ کړنګ اواز دَ خپل ټيم پيس راياد شي راته بيا ټوله ورځ مې دغه شور لګي پهٔ غوږو باندې طبيعت مې ګډ وَډ شي ، پوهيږم نهٔ چې څهٔ چل وشي خو ټوله ورځ مې پهٔ مازغو باندې څهٔ بوج غوندې وي يو خوا دَ کور نه زهٔ بې خو بهٔ ستړے تلے يمه بل خوا مالک راته پهٔ کار کښې هم خبرې کوي بس ټوله ورځ مې پهٔ ولاړې باندې پښې ستړې شي کله پهٔ يوهٔ کله پهٔ بله پښه ودريږمه زهٔ او دَ ماښام پهٔ انتظار وخت ته ګورم خو دا يوهٔ ورځ هم دَ کال غوندې اوږده شي پهٔ ما

خبر خو چې ورځ شي زما تېره ماښام کور ته راشم
سترے ستومانه تنګ دَ شور نه يم خو شور ته راشم
زما پهٔ کور باندې هم هاغه سترګې نهٔ خوَرېږي
ځکه چې شوک پهٔ دروازه کښې راته نهٔ وي ولاړ
ځکه چې شوک هم انتظار نهٔ کوي ستا دَ بچي
کور کښې زما دَ کمرې ځنګ کښې ده يوه بله کمره
پکښې يوځوان هلک اوسېږي دَ انډيا دے مورې
هغه پهٔ اوچت اواز سندرې اوري شور کوي ډېر
او ستا نيازبين سترې بچے شپه کښې دَ خوبهٔ اوځي
خبر! خو مورجانې چې ماښام کور ته راورسېږم
کهٔ مې جامې چرته خيرنې وي هغه اووينځم
ځان له پهٔ خپله بيا کتوې پخه کړم ، اودهٔ شمه بيا
ستا پهٔ يادونو پهٔ سوچونو باندې ښهٔ شمه بيا
دغسې زغل ته بيا تيار شمه دَ بلې ورځې

اوس راته تهٔ ووايه مورې چې تهٔ ښهٔ ئې کنه ؟
هغه د سر درد دې اوس ښهٔ وي کهٔ لا هغسې وي؟
زما پهٔ خيال پهٔ لوپټه بهٔ دې تړلے وي سر
زما خيالونو بهٔدې هم ډېر دردولے وي سر
څنګه دےمورې اوس موسم دَ کلي ځنګ دے؟

ځنګه سپرلے ورته راغلے او کۀ نۀ دے مورې ؟
هغه بادام زمونږ کوځه کښې دي ګل شوي کنه ؟
هغه خُوشبو هم دَ نارنج دَ بوټي وي او کۀ نۀ ؟
هغه ماښام کښې اوس خوَږې قيصې کوئ او کۀ نۀ ؟
مونږ مُسافر هم پکښې چرته يادوئ او کۀ نۀ ؟
ځنګه ، پۀ کور محلت کښې خېر دے ، خلق ځنګ دي مورې
پۀ ماشومانو هم جنګونه اوس کوئ او کۀ نۀ ؟
خېر دے واړه دي ماشومان دي چرته جنګ اونۀ کړئ
دغه زمونږه ګاونډيان دي چرته جنګ اونۀ کړئ
مورې ځه بس دے زۀ بۀ بيا درته بل خط وليکم
زما پۀ خط ګورے چې چرته اوښکې توئي نۀ کړې تۀ
زۀ ښۀ خوشحاله يمه مورې تۀ خوشحاله اوسه
ماته دُعا کوه چې کور ته تا له درشمه زر
چې ما پۀ دواړه مخه ښُکل کړې ، ما کړې غېږ ته نزدې
چې ښۀ ټکور دَ غوځو شُونډو په تندي راکړې تۀ
چې بيا پاړونه ستا دَ وچو شُونډو ټول لرې شي
چې ښۀ خندا شي بيا خوَره زما او ستا پۀ شُونډو
خندا هم راشي پۀ بيا بيا مورې ، بيا بيا پۀ شُونډو

****

# بې آسره

دومره شوې غريبه تهٔ ، چې ورک دې شو دَ سر سُيورے
سرهٔ غرمه لا څهٔ کوې چې نهٔ مومې سحر سُيورے
نهٔ دې لو پته شته نهٔ پهٔ پښو کښې دې پېزار لرې
پښې آبله سرتوره ، لېونۍ دَ چا ازار لرې
زُلفې دې خيرنې او خوَرې ورې ارزانې شوې
اوښکې ملغلرې دې له سترګو هم روانې شوې
ستا دې سپينو سترګو لا رانجه چرته ليدل نهٔ دي
ښکارې پورې کړې دې پهٔ عمر هم کجل نهٔ دي
اېښې دې نکريزې هم پهٔ لاسو او پښو نهٔ دي لا
وينې وينې ګوتې دې وينځلې پهٔ اوبو نهٔ دي لا
بيا دَ دې دپاسه هم بلها بلها ياران لرې
تول دې خود غرضه ، زهرژن غوندې ماران لرې
خپل مطلب پوره کړې بيا سپېره پهٔ مخ درکړې هم
نشته څوک جواب چې ستا دَ بدې ورځې ورکړې هم
نهٔ پوهېږم نهٔ ، چې اخر ولې تهٔ ارزانه شوې

ولې بدې ورځې له يارانو سره روانه شوې
يا خو داسې ښکارې چې دَ چا ازار وهلې يې
لاس له دَ بې حِسه دلالانو ته ورغلې يې
يا دې غريبۍ چرته دَ بدو ورځو ښکار کړلې
تهٔ خپلو يارانو دَ اغيارو نه هم ځار کړلې
ستا دې بدې ورځې خو احساس زما لمبه کړلو
دې ظلم زياتې رالـه بدن خوَله خوَله کړلو
اوس مې په بدن کښې وينه جوش وهې غورځنګ کوي
دا پښتون ضمير بهٔ ستا دَ هر دُښمن سره جنګ کوي
ستا دا دلالان بهٔ وار پهٔ وار اول راونيسم
بيا دَ دې نه وروستو بهٔ دُښمن او غل راونيسم
ستا دَ بې عزتۍ بدله بهٔ تول پهٔ توله واخلمه
هم تاله بهٔ خدائيګو خوشحالي بې توله واخلمه
شونډې بهٔ دې سرې کړې تهٔ او لُفې بهٔ کمڅۍ کړې بيا
سرې بهٔ پهٔ نکريزو دې چاچۍ کړې هم پاپۍ کړې بيا
ښُکلې لوپټه او ښُکلے شال بهٔ پهٔ تندي کيږدې
سترګې بهٔ دې تورې کړې او خال بهٔ پهٔ تندي کيږدې
دغه مې ايمان دغه ارمان دے دَ وطن خاورې
تهٔ خو زما ځان ئې اے زما دَ خپل بدن خاورې

****

## دَ درد تصویر

مــــا دَ درد نــــه جوړولــــو
یــو تصــویر تالــه شــیرینې
پکښې ستا حُسن مستي وه
پکښې رنګ ؤ ستا دَ مینې
ټول وجود مې ورله جوړ کړو
ؤ زمــا ځیګــر کښــې پــټ
وه مســتي خُمــار ئــې دومــره
چې دے ستا نظر کښې پټ
خو ستا شُونډې چې مُسکۍ شوې
دا دَ درد تصویر ئې خور کړو
ما هم زر زر بیا را جوړ کړو
بیا کړې ځنځیر ئې خور کړو

هیڅ پهٔ چل ئې پوهه نهٔ شوم
چې ئې بیا څنګه راجوړ کړم ؟
څنګه زړې زړې وجود ئې
زهٔ پهٔ خپله وینه موړ کړم
زهٔ پهٔ دې کښې شوم ناکامه
دا دَ درد تصویر جوړ نهٔ شو
ټول کړاؤ مې تر ماښامه
هسې لاړلو اوبهٔ شو
بس افسوس راته پهٔ دې دے
چې دَ درد نه خبر نهٔ شوې
تا دَ درد تصویر اونهٔ لید
پوئې زما پهٔ ځیګر نهٔ شوې
ګنې تا بهٔ وے لیدلے
خپل ستم او خپل جمال ښهٔ
تا بهٔ ماته وے راکړے
یاره داد هم دَ کمال ښهٔ

****

# دَ خپلې خوَږې ابۍ (نیا)
# دَ مرګ پهٔ یاد کښې

(یادګېرنه )

زهٔ پهٔ انګلینډ کښې ؤم چې ما خپله ضعیفُ العمر او ناجوړه نیا پهٔ خوب کښې پهٔ خوشحلی او پهٔ خندا اولیده ـ
دَ ټلیفون کولو وخت راته مېلاؤ نهٔ شو ـ پهٔ نن سبا کښې دوهٔ ورځې تېرې شوې چې دَ هغې دَ مرګ خبر راغـــے۔
دَ اُوښکو سره سره مې دا یو څو کرښې دَ خپل زړهٔ پهٔ دلاسه اولیکلې ـ

کـــاش چـــې تـــا وے کـــړې
لـــــرې مـــــا ســـــره خبـــرې
ســـــتا چـــــې زنکـــــدن ؤ
زهٔ ؤم ســـتا نـــه لـــرې لـــرې
ســـتا پـــهٔ مینـــه مســـت ؤم زهٔ
شـــمعې ســـتا پتنـــګ وومـــه
هـــر وخـــت بـــهٔ خوشـــحاله ؤم

ستا پهٔ دُعا رنګ ومه
ستا دَ مرګ خبر څهٔ ؤ
غم جوړې کړې لښکرې
ستا چې زنکدن ؤ
زهٔ ؤم ستا نه لرې لرې
ما پهٔ خوب کښې وليدې
کله چې ژوندۍ وې تهٔ
پهٔ ميز درته ګلان پراته
ناسته پهٔ کُرسۍ وې تهٔ
لکه ناسته يو چمن کښې
تهٔ ښکلې ګُلان کَرې
ستا چې زنکدن ؤ
زهٔ ؤم ستا نه لرې لرې
ستا پهٔ خوا کښې ناست ؤم زهٔ
تا يوهٔ خند وکړه
ما درنه تپوس وکړو
تا ښُکلې دُعا وکړه
ستا دَ خُلې خبرې بهٔ
توئېدلې ملغلرې
ستا چې زنکدن ؤ

زهٔ ؤم ستا نهٔ لرې لرې
دَ خوب نه چې بېدار شوم زهٔ
زړهٔ مې شو شکي سحر
ما وئېل ټلیفون بهٔ زهٔ
سبا کووم وختي سحر
خو وخت راته مېلاؤ نهٔ شو
زهٔ پردے مزدور ؤمه
ورځ دغسې تېره شوه
خفه هم زهٔ ضرور ؤمه
سترګې مې پهٔ اوښکو کښې
هم ټولې شوې تَرې
ستا چې زنکدن ؤ
زهٔ ؤم ستا نه لرې لرې
دوهٔ ورځې چې تېرې شوې
ستا دَ مرګ خبر راغے
بس خو یو انبار دَ غم
سم زما پهٔ سر راغے
لرې رانه والوتې
قدرت درکړې وَزرې
ستا چې زنکدن ؤ

زهٔ ؤم ستا نه لرې لرې
اوس چې کور ته لاړ شمه
وي هر شے پیکه پیکه
اور راباندې پورې شي
زړهٔ مې شي تیکه تیکه
ستا کمرې ته درشمه
کټ پوزے دې نهٔ وینم
تا چې کور کښې نهٔ وینم
نور په سترګو څهٔ وینم
لاړ شم ادیرې ته بیا
ستا قبر ته وژاړم
زهٔ درته دُعا وکړم
ناست دې سر ته وژاړم
اے زما خوږې ابۍ
خفه مهٔ شې تهٔ چرې
ستا چې زنکدن ؤ
زهٔ ؤم ستا نه لرې لرې

****

(جنوري ۲۰۰۷ء لندن)

# خپل والد مُحترم ته یو خط

پۀ لندن کښې مې دا نظم دَ خپل والد صیب سره پۀ ټیلیفون خبرو
کولو نه پس ولیکو ـ دا یو څو ټکي دَ هغوئي دَ شخصیت ، مینې او
عظمت اِحاطه نۀ شي کولے ـ خو بیا هم دومره وشوه چې دَ زړۀ بوج
مې سپک شو ـ

اے زما داجي ما ته بلها یادیږي لا
ستا خوږې خبرې چې دې وکړې دَ کوټې سره
هغه دَ دوؤ زړونو درزېدۀ مې نۀ هېرېږي لا
تلم مُسافرۍ له چې تا جوخت کړمه سینې سره
اوښکو کښې لمدې شولې ستا سترګې مُبارکې هم
ستا سترګې راډکې شوې زما سترګې راډکې هم
ما خو دې پۀ سترګو کښې هم اوښکې لا لیدے نۀ شوې
توئې شولې پۀ زمکه اخر سترګو کښې ځائېدے نۀ شوې
خوږه بابا جانه اخر ولې دا قصور دَ چا
ولې اخر سرې شولې ستا سترګې پۀ ژړا ژړا
یو دَ خیټې غم کړو مونږ دَ یو بله جُدا جُدا
لاړله خندا ئې مونږ نه یوړه پۀ خندا خندا

خوږه بابا جانه ولې مونږه خپل وطن نۀ لرو ؟
ولې ټوک ډوډۍ پسې دکور نه دومره لرې ځم ؟
ولې مونږه تنده دِ یوبل دَ دیدن نۀ لرو؟
ولې بیا پۀ خپله خپلې مور نه دومره لرې ځم ؟
شته دے بابا جانه دَدې هر یو سوال جواب شته دے
دلته کښې کۀ نشته دے نو هلته خو حساب شته دے
ګرانه بابا جانه دې وطن کښې ډېر دېره دي نن
وي بۀانسانان خو پۀ رښتیا سړي خوارۀ دي نن
مونږه ئې بې وجې یُو جوړ کړي غُلامان خپل
وَچ پۀ وچه مونږ ته پۀ څټونو راسوارۀ دي نن
تۀ ځنګه ژوندے وې پۀ دې مئېنځ دَ بلاګانو کښې
ګرانه بابا جانه ستا همت ته زۀ سلام کوؤم
یاد بۀ دې ساتمه زۀ ټول عمر دُعاګانو کښې
ګرانه بابا جانه ستا عظمت ته زۀ سلام کوؤم
تا چې بۀ هم شپه او ورځ پۀ ځان باندې یو کړي وو
کار بۀ ؤ محنت بۀ ؤ او سوچ ، فکر بۀ تا کوؤ
ستا دغه عظمت ته خو زۀ کله رسېدے نۀ شم
خپله بۀ نهر وې سوچ او فکر دې زما کوو
خوږه بابا جانه زۀ چې نن پۀ دې ډکر ولاړ
دا ستا برکت دے ستا عظمت ستا دُعاګانې دي

اوس خو هر دُښمن ته ته زهٔ رَسا یمه پهٔ سر ولاړ
لا خو زهٔ ځلمے یمه جذبې مې هم لا ځوانې دي
ستا پهٔ سر قسم چې کومې اوښکې ستا توئې شَوې دي
زهٔ بهٔ دَ هغې دَ پاره خپلې وینې توئې کړمه
بیا بهٔ دې پهٔ سترګو کښې ټول عمر خنداګانې وي
زهٔ بهٔ هر دُښمن دَ ښې دوستۍ پهٔ خوږو پوئې کړمه

خو!

اے زما داجې ما ته بلها یادېږي لا
ستا خوَږې خبرې چې دې وکړې دَ کوڅې سره
هغه دَ دوؤ زړونو درزېدهٔ مې نهٔ هېرېږي لا
تلم مُسافرۍ له چې تا جوخت کړمه سینې سره

****

(نومبر ۲۰۰۷ء لندن)

# مات شي زما قلمه

مـــات شـــي زمـــا قلمـــه دوهٔ ټـــوټې شـــي
دغـــه ټـــوټې دې هـــم ټـــوټې ټـــوټې شـــه
چـــې دَ وطـــن دپـــاره ونـــهٔ ليکـــي
دَ دې چمـــن دپـــاره ونـــهٔ ليکـــي
رښـــتيا رښـــتيا ترخـــې ترخـــې خبـــرې
نغمـــې نغمـــې خـــوَږې خـــوَږې ســـندرې
چـــې ئـــې ځلمـــې پـــهٔ ســـنګرونو اووئ
پېغلـــې ئـــې هـــم پـــهٔ ګودرونـــو اووئ
مـــات شـــي زمـــا قلمـــه دوهٔ ټـــوټې شـــي
دغـــه ټـــوټې دې هـــم ټـــوټې ټـــوټې شـــه
بېـــدار چـــې نـــهٔ کـــړې دا اودهٔ پښـــتانهٔ
هوښـيار چې نهٔ کړې دغـه شتهٔ پښـتانهٔ
چې ورله اور سينو کښـې بل نهٔ کړې تهٔ
غېرت ئې وينه کښې غورځنګ اونهٔ کړي
چـــې شـــمله جَګـــه او وښـــکَلي ســـينه
تُوره پهٔ لاس پهٔ مېدان جنګ اُونهٔ کړي
مـــات شـــي زمـــا قلمـــه دوهٔ ټـــوټې شـــي
دغـــه ټـــوټې دې هـــم ټـــوټې ټـــوټې شـــه

خوَره چې نهٔ کړې دَ حیا لوپټه
خوَره وره پهٔ پښتونخواه لوپټه
چې نفرتونو باندې وانهٔ چَوې
دَ مینې مینې او رڼا لوپټه
مات شې زما قلمه دوهٔ ټوټې شې
دغه ټوټې دې هم ټوټې ټوټې شه
چې دَ مظلوم دَ پاره ونهٔ ژاړې
تهٔ چې دَ ظُلم نظام ختم نهٔ کړې
چې دَ ظالم دَ ظُلم زور دَ ویرې
دلته خور شوے ماښام ختم نهٔ کړې
مات شې زما قلمه دوهٔ ټوټې شې
دغه ټوټې دې هم ټوټې ټوټې شه
چې یتیمان او کونډې رنډې دلته
پهٔ ټوک ډوډۍ پسې ویرونه کوي
چې دا بې کوره او سرتوره خلق
پهٔ ناسته لارو کښې خوبونه کوي
مات شې زما قلمه دوهٔ ټوټې شې
دغه ټوټې دې هم ټوټې ټوټې شه
چې دَ سحر شُونډې راپرا نهٔ نېځې
چې ازادي ازادي اووائي دا

تـهٔ چـې دَ نمـر پلوَشـې شـوخې نـهٔ کـړې
چـې ښـهٔ رڼـا کـړي دَ مشـرق نـه دُنيـا
چـې مـازيګر کښـې غرغنـډې وانخلـې
چـې غلـے غلـے شـي مغـرب تـه پنـاه
مـات شـې زمـا قلمـه دوهٔ ټـوټې شـې
دغـه ټـوټې دې هـم ټـوټې ټـوټې شـه
چـې دَ سـپرلي سـپرلي قيصـه ونـهٔ کـړې
چـې دَ چمـن ښـُکلې ځـواني پـاتې شـي
تـهٔ چـې دَ ګـُل شـُونډې ونـهٔ خنـدوې
چـې داسـې زيـړ ئـې اننګـي پـاتې شـي
مـات شـې زمـا قلمـه دوهٔ ټـوټې شـې
دغـه ټـوټې دې هـم ټـوټې ټـوټې شـه
چـې دَ جانـان شـُونډې شـکرې نـهٔ کـړې
چـې دَ جانـان سـترګې غزلـې نـهٔ کـړې
پـکښـې ډيـوې دَ رڼـا بَلـې نـهٔ کـړې
تـهٔ چې بس دومره هم انصاف ونهٔ کړې
چـې ډېـره ډېـره ده جانـان کښـې خنـدا
کـهٔ نـهٔ ګـُلاب دَ ګُلسـتان کښـې خنـدا

****

(۲۰۰۷ء لندن)

# عمران خان ته خط

**(یادګیرنه )**

زما تعلق دَ یوې سیاسي ډلې سره هم نشته ـ زیات وخت
پهٔ مُسافرۍ کښې تیرې۔ دا نظم مې دَ تحریکِ انصاف دَچئیرمین
عمران خان دَ پروني کردار پهٔ تاثرکښې لیکلے دے

خانه عمران خانه ستا نظر ګورے دَ باز دے
ستا دَ ښکار کولو هم جُدا غوندې انداز دے
تهٔ دَ ټپوسانو دَ ښکار ډېر ښُکلے هُنر لرې
سترګې دې هم سرې وي تل خُمار خُمار نظر لرې

يـــوهٔ دې نظريـــه راتينګـــه کـــړې دَ اقبـــال ده
بـل دې پـهٔ رګونـو کښـې هـم وينـه دَ خوشـحال ده
ستا پـهٔ هر عمل او پـهٔ هر کار کښې صداقت دے
هم دې پـهٔ کردار هم پـهٔ ګُفتـار کښې صداقت دے
تـا ټولـه دُنيـا کښـې پاکسـتان لـه نـوم ګـټلے دے
تـا پـهٔ ښـهٔ کردار باندې هم ځان لـه نوم ګـټلے دے
تهٔ دَ شرمخانو مئينځ کښې يواځې بې اسرې نهٔ يې
يا دمو پهٔ دُعا کښې ئې لا وَتے مو دَ خُلې نهٔ يې
کله پـهٔ غـرار چې ازمرے شي پـهٔ ځنګـل کښـې
تختي ګيدړان او ورک ئې ځائے شي پهٔ ځنګل کښې
وروستو ګورے نهٔ شې مونږه ټول يو ستا سره ولاړ
دغـــه دے هـــم وخـــت دَ انقـــلاب پـــهٔ دروازهٔ ولاړ
نـــهٔ مـــو نشـــنلے نـــهٔ پيـــپلے نـــهٔ جمـــاعتے پکـــار
نهٔ مو دے نون ليګ پکار او نهٔ ترې مونږه قاف غواړو
مـــونږه خـــو دَ دغـــه يـــو تحريـــک ســـره ملګـــري يـــو
مونږ پهٔ خپل وطن او خپله خاوره بس انصاف غواړو

****

(۲۰۰۷ء لندن)

# نهٔ پوهېږم ولې زهٔ

هـــر ببګـــاه اودهٔ شـــمه
ګـــډوډ خوبونـــه ويـــنم
هـــر ســـحر چـــې پاســـمه
بـوج مـې وي پـهٔ سر بانـدې
نـــهٔ پـــوهيږم ولـــې زهٔ
دومـــره بـــې ارامـــه يـــم
ولـــې مـــزه ورکـــه شـــوه
ولـــې بـــې قـــراره يـــم
تنګـــه پـــهٔ مـــا زمکـــه شـــوه
وګـــورم اســـمان تـــه زهٔ
ښـــکته بـــره ځـــان تـــه زهٔ
هـيخ پـهٔ پتـه پـوئې نـهٔ شم
لاس مـې کـړم ګرېـوان تـه زهٔ
دې کښـــې يـــو اواز وشـــي
غلـــے يـــو غرېـــوژن اواز
مـــهٔ کـــوه رفيقـــه تـــهٔ
دا دَ دې عـــلاج نـــهٔ دے
داســـې دَ ګرېـــوان شـــلوَل

ژوند نهٔ دے رواج نهٔ دے
ورشه ټوپک واخله تهٔ
ورشه تبره تُوره کړه
بيا سينه وښکلے شه
ودانګه ميدان ته تهٔ
هغه سړے وګوره
څوک چې تا غُلام ګڼي
خپل ځان ته چې خدائے وائي
مشر ځان دَ قام ګڼي
سر او تن ئې بېل کړه تهٔ
بيا وګوره ځان ته تهٔ
داسې بهٔ ګډوډ نهٔ وي
ستا خوبونه سم بهٔ وي
نهٔ بيا سحر چرته
بوج وي ستا پهٔ سر چرته

خو !

لاس چې کړم ټوپک ته زهٔ
تُورې ته نظر کړمه
ودرېږم لږ غلے شم
شُونډو له زور ورکړمه

دلتـــه بـــل اواز وشـــي
دا وي دَ ضــــــمير اواز
دا وي دَ شـــعور رڼـــا
دا نـــهٔ وي دَ ويـــر اواز
مـــا تـــه وائـــي مـــهٔ کـــوه
دا دَ دې عـــلاج نـــهٔ دے
دا ســـې جـــذباتي عمـــل
ژونـد نـهٔ دے رواج نـهٔ دے
پوئې مې کړي پهٔ زوَر او زير
بيـــا بيـــا راتـــه وائـــي دا
خانـه لـږ هوښـيار کـړه ځـان
ورکـــړه دَ شـــعور رڼـــا
علـم پکښـې خـور کـړه تـهٔ
بيـــا ګـــوره رڼـــا ســـبا
دا دَ دې ناســـور عـــلاج
دا ئـــې دے ضـــرور عـــلاج
بيـــا بـــهٔ پـــهٔ ارام اوســـې
وي بـــهٔ ښـــهٔ دســـتور رواج

****

(۲۰۰۷ء لندن)

# زما منزل

کـۀ ډېربـۀ غورزېدمـه ، پاسېدمه خـو بـس تلمـه زۀ
پـۀ خیـال دَ چـا دَ میـنـې ځنګېدمـه خـو بـس تلمـه زۀ
پـۀ تـوله لار پـۀ ځـان نـۀ پوهېدمـه خـو بـس تلمـه زۀ
پـۀ وروسـتو بـۀ راتلمـه چې بۀتلمـه خـو بـس تلمـه زۀ

اوس هـم راتـه یـاد دي چـې زۀ کلـه پـۀ سـفر تلمـه
تیـاره وه چارچـاپېره زۀ وختـي وختـي سـحر تلمـه
تلمـه دَ خپـل کـوره تـږے تـږے هـم نهـر تلمـه
پښې ابله سرتور سر پۀ غرمه کښې پۀ سُور نمر تلمـه

تلمـه بـس کـږې وَږې اوږدې لارې مـې سـر کړلـې
ورک بـۀ شـوم خـو یـاد بـۀ راتـه لارې برابـر کړلـې
هېـرې تماشې مـې ځـائے پـۀ ځـائے دَ مـازیګر کړلـې
هېـرې مـې سـندرې هـم دَ پېغلـو پـۀ ګـودر کړلـې

تلمـه داسـې ډېـر ډېـر چَنارونـه بـۀ راتلـۀ پـۀ لار
سُـیورې بـۀ زمـا دَ خـوا نـۀ لـرې تلـۀ پـۀ لار

خلقـو بـۀ هـم ماتـه ډېـر حېـران حېـران کاتـۀ پـۀ لار
سـختې وې ښـې سـختې کلـه څـۀ او کلـه څـۀ پـۀ لار

مخکښې مخکښې تلمه خپل همّت زما ملګرے ؤ
مينـه هـم خُلـوص او محبـت زمـا ملګـرے ؤ
يـو پکښې دَ وخت نـه خپـل قسمت زمـا ملګـرے ؤ
بـل لکـه نظـر دَ بـاز اوچـت زمـا ملګـرے ؤ

تېـرې مـې سـفر کښـې نـا قـلاره دا لمحـې شـولې
يو ځائے چې لمحې شوې ترېنه جوړې ورځې شپې شولې
ورځـې او شـپې مياشـتو او کلونـو تـه اوړدې شـولې
مياشتې او کلونـه چې رايو ځائے شو مودې شولې

خو!

راغلـم خپـل منـزل مـې اخـر ومونـدو دَمـه شـومه
پـاس دَ غـره دَ سـر نـه دَ دُنيـا پـۀ ننـداره شـومه
خاندمه خوشحاله شوم ، خوشحاله شان ټپه شومه
لاړم پـۀ دُنيـا بانـدې خـوَره وَره قيصـه شـومه

(۲۰۰۷ء لندن)